هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

په ننگرهار کی دخاد لس تنه غړی دبمونو سره ونیول شول

ننگرهار ، میډیا :
میډیا دننگرهار ولایت دجهادی قوماندانانو شورا په حواله رپوټ ورکړی چی ددی ولایت مجاهدینو دکابل رژیم دخاد لس تنه غړی چی دمجاهدینو په جامه کی یی دتخریب کاری هڅه درلوده د۱٦ بمونو سره یو ځای ونیول. په رپوټ کی زیاته شوی دغه تخریب کارانو چی دشینوارو دلوبی ولسوالی په مربوطاتو کی نیول شوی پدی اعتراف کړی چی دوی دجلال اباد دخادرئیس سره اړیکی درلودی ، او وظیفه ورکړل شوی وه چی دمجاهدینو ددرنو وسلو دسنگرونو په ویجاړولو سره دمجاهدینو په منځ کی گډودی راپیدا کړی او دبمونو په چولو سره په ولسی خلکو کی ویره او ډار خپورکړی .
ددی لس تنو مشر چی درژیم له خاد څخه یی پیسی او چاودیدونکی مواد تر لاسه کول سرحدی سیمو ته په تیښته بریالی شوی .

دقوماندانانو دسرتاسری شورا مقدماتی غونډه پای ته ورسیده

پکتیا :
دپکتیا ولایت څخه دجهاد هنداری خبریال خبر راکوی چی دقوماندانانو دسرتاسری شورا مقدماتی غونډه چی دعقرب دمیاشتی په ۳۰ نیټه دپنجشنبی په ورځ دالحاج مولوی جلال الدین حقانی دجبهاتو په یوه جهادی مرکز دحضرت عمر فاروق په غنډ کی پیل شوی وه ، ددوشنبی په ورځ دقوس په ۳ نیټه دیوبریکړه لیك په صادرولو سره پای ته ورسیده .
خبر زیاتوی په دغه غونډه کی چی په هغی کی دجهادی سنگرونو یو شمیر نومیالیو قوماندانانو برخه اخیستی وه دقوماندانانو دسرتاسری شورا دراتلونکی دوری غونډی چی په دی نږدی وخت کی به جوړه شی په اجندا اویوشمیر جهادی مسایلو بحث وشو اولازم تصمیمونه ونیول شول .

دوهم کال یولسمه (پرله پسي ٦۳مه) گڼه،چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش دقوس ٦ مه،د۱٤۱۲ هـ ق کال دجمادي الاول ۲۱مه د۱۹۹۱ م کال دنومبر ۲۷

الحاج مولوي نظام الدین «حقاني » دمجاهد غږ راډیو سره په مرکه کي:

روس او امریکا په افغانستان کې داسې حکومت غوښتونکي دي چې له کافرانو سره کافر او له مسلمانانو سره مسلمان وي

په دوهم مخ کي

په هند کی دتیزو بارانونو له امله ۱۸۰ کسان مړه اویه زرگونو بی کوره شول

یولك او ۷۰ زره بی کوره کسان مؤقتی پناه ځایونو ته نقل شوی دی

په ۸ مخ

گردیز دمجاهدینو تربرمیالو بریدونو لاندي

د «گارد خاص » او «خارندوی» خیل منځي دري ساعته جگړه

په اووم مخ کي

اعلامیه کمسیون عالی شوری سرتاسری قوماندانان جهادی افغانستان

درصفحه ۷

اعتراف یك افسر ارتش هند :

کشمیر هیچگاهی جزء خاك هند نبوده است

درصفحه ۸

په نیول شوو عربی سیمو کی ددوو جمهوریتونو د تینگښت هیڅ امکان نشته

په کومو ځمکو چې نن یهودیان اوسیږي هغه زموږ دپلار اونیکه حق دی !
دامریکا دیهودیانو یوغونډی ته داسرائیلو دصدراعظم اسحق شمیر وینا:

په ۸ مخ کي

دچین څخه داسرائیلو د بهرنیوچارو دوزیر پټه لیدنه کتنه

پیکنگ :
داسرائیلو ددفاع وزیر «موشه ایرونز» ددی میاشتی په لومړیو کی دچین څخه یوه پټه خورسمی لیدنه کتنه کړی ، دامریکا غږ راډیو واشنگټن پوسټ اخبار په حواله ویلی چی داسرائیلو ددفاع وزیر په پیکنگ دچین دلوړ رتبه مقاماتو سره کتلی اوداسرائیلو اوچین تر منځ یی داقتصادی اړیکو په هکله خبری اتری وکړی داسرائیلو دبهرنیو چارو وزیر په عربی هیوداونو باندی دچین د وسلواوساینسی تکنالوجی دخرڅلانه په هکله خپل تشویش ښکاره کړ.

دخلیج په خونړی جنگ کی داتومی وسلو داستعمال اندیښنه

دڼځو لکو عراقیانو د مرگ ویره شته

په ۸ مخ

دارمنیا اوآذربائیجان تر منځ دخونړی جنگ خطر

دشوروی پارلمان داضطراری غونډې په راغوښتو ددواړو جمهوریتونو اختلاف

په ۸ مخ کي

روس اوامریکا په کوه ، دسیاسي حل په بلمه دافغاني مجاهدینو د بریالیتوب مخه نیول غواړي

سناتور مولانا سمیع الحق

په ۳ مخ

روزانه ۲۰۰ فامیل مسلمانان برما به بنگله دیش هجرت می کنند

ډاکه ،روزنامه پاکستان :
به اساس راپور های منتشره روزانه ۲۰۰ فامیل از مسلمانان برمایی به خاطر نجات از ظلم وستم حکومت نظامی آن جابه بنگلدیش هجرت می کنند.
گرچه حکومت بنگلدیش تاحال اواز صریح خود راعلیه این نوع ظلم وستم بلند نه نموده ولی وزیر خارجه آن کشور اکنون مصروف بازدید ازبرماست تا باحکومت نظامی ان کشور درمورد وضع رقت بار مسلمانان مذاکره وگفتگو نماید.
سلسله هجرت مسلمانان ازبرما به بنگله دیش بشدت جریان دارد.

انتخاب معاون صدراعظم مصربحیث منشی عمومی سازمان ملل متحد

دکتور بطرس غالی ٦۹ سال دارد و پیرو مذهب عیسایی میباشد

درصفحه ۸

سالانه صدها هزار تن به اثر نوشیدن شراب جان خود را ازدست می دهند

واشنگتن ، روزنامه پاکستان :
سالانه صدها هزار تن درسراسر دنیا به اثر نوشیدن شراب جان خود را از دست می دهند ، این نکته را یك پروفیسور ایتالوی طی کنفرانس روی موضوع مضرات شراب نوشی ابراز داشته است .
موصوف افزوده است که سالانه ۷۰ هزا ر تن در ایتالیا و ٦۰ هزار تن در فرانسه به اثر استعمال الکول ازبین می روند .
گرچه بیشترین رقم تلفات رامردان تشکیل می دهند ولی به تعداد زنان نیز روز بروز اضافه می گردد.
همچنان یك پروفیسور امریکایی گفته است که نوشیدن الکول باعث زیاد شدن جرایم وحادثات ترافیکی می گردد.

سرمقاله

دبري وروستی پړاو مسوولیتونه او مکلفیتونه

دحق په لار کی زموږ دمجاهد ملت دبیدریغه مالی اوځانی قربانیو په برکت زموږ اسلامی انقلاب او اتلوال پاڅون له پیروستونزورو پړاوونو بریمن راوتلی ، او دادی اوس دوروستی بری تر پړاوه په ډیر کړاو رارسیدلی دی .
په دغه بهیر کی که موږ له یوی خوا دلوی خدای (ج) په مرسته دیوی نااټوله جگړی په نظامی ډگر کی دروس په څیر یو طاغوتی الحادی ځواك چی خپل قوتونه یی نه ماتیدونکی ، خپله پوچه الحادی مفکوره یی پر نړی حاکمه کیدونکی اوخپل شوم مرام یی بریمن باله ، په گونډو کړ اواوس تقریباً ټول نړیوال په دی معترف دی چی دروس ښکیلاکی ځواك دیو تش لاسی (خودایمان او پخی عقیدی په وسله سمبال) ملت سره دمخامخ جگړی په ډگر کی پاتی راغی اوله داسی شرمیدلی ماتی سره مخامخ شو چی اوس یی په هیڅ ډول دعام نړیوال ویښ بشری ذهنیت له نظره نشی پټولی .
نوله بلی خوا داسلامی انقلاب په تیرو څه دپاسه دیارلسو

په ۷ مخ

دانسانی حقوقو څخه دتیری په هکله دملگرو ملتو سازمان بورپوټ

په عراق کی دداخلی اړودوړ په دوران کی ښځی اوماشومان ټانکونو پوری تړل شوی

په ۸ مخ

نکته نظر یك مبصر سیاسی امریکا :

اخرین تلاش گرباچف بخاطر ارتباط سیاست خارجی بانظام مرکزی

هیات روسی اشتراك کننده در کنفرانس مادرید نمی توانستند مصارف هوتل خویش را بپردازند

درصفحه ۷

موږ دوسله وال جهاد له لارې پرخپل بري ډاډه یو ، هیڅ‌اته داحق نه ورکوو چي پر موږ دخپلي خوښي حکومت تحمیل کړي.

الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

روس او امریکا په افغانستان کي دداسي حکومت غوښتونکي دي چي له کافرانو سره کافر اوله مسلمانانو سره مسلمان وي

پوښتنه : محترم مولوی صاحب که مهربانی وکړئ دګردیز دکلابند شوی ښار په باب خصوصاً دمجاهدینو دبریالیتوبونو او دهغه ځای دسیاسی اونظامی اوضاع په اړوند زموږ لوستونکو ته معلومات ورکړی ښه به وی؟

ځواب :

بسم الله الرحمن الرحیم،

مجاهدینو دمیزان د۸ څخه تر ۱۱ پوری چې دسخت جنګ په جریان کی دحکومت څخه ډیری پوستی ونیولی اوقریب وو چې ښار یی هم نیولی وای دستو کنډو څخه مجاهدین دباداسیا غونډی پوری رسیدلی وو خودنورو استقامتونو مجاهدین لږ لیری وو ،اوبل دکابل او ګردیز تر منځ لاره بنده نه وه دکابل څخه نوی عسکر ټانکونه اومهمات ورته راورسیدل ، نو مجاهدین مجبور شول چې دنیول شوو ځایونو دفاع وکړی وروسته بیا ډیر جنګونه وشول چې په هغی کی حکومت ته ډیر تاوانونه رسیدلی دي یوازی دجنوب طرفته دحکومت ۵۰ ټانکونه تخریب شوی ٦ ګودامونه تخریب اونور وسایل یی دمنځه ولاړل ، همدا راز مجاهدینو ۱۸ ټانکونه ، څو میله توپونه او۸۰ موټری مهمات په غنیمت نیولی اوس هم جنګ دوام

> **روس اوامریکا غوارې په افغانستان کي داسي حکومت جوړ کړي چي نه مسلمان وي او نه کافر ، بلکه دهرچا په نظر برابر وي**

لری مجاهدین دګردیز څلور کیلو متری٦٤ کیلو متری او ۱۸ کیلو متری کی پراته دي. هره ورځ مجاهدین مخکی کیږی له همدی امله حکومت خپله قرارګاه دښار څخه تیری ته نقل کړیده .

پوښتنه : شوروی ته دتللی شوی هیئت په باب ستاسی نظرڅه دی ؟

ځواب : شوروی ته دهیئت لیږل هم داسلام له نظره غلط دي اوهم دپښتو اودنیا دقانون له مخی .

داسلام اصول دادی چې کوم وخت دمسلمانانو په وطن کافر تعرض وکړی اویا داچې یو مسلمان دکافر په لاس ورغلی وی ، نو په مسلمانانو جهاد فرض عین دی ترهغی چې خپل وطن نه وی آزاد کړی اومسلمان یی دکافر دپنجی څخه خلاص کړی نه وی او که چیرته داوشو چې مسلمان آمر کولی شی چې دمسلمانانو دخیر دپاره ور سره سوله وکړی او کفار به جزیه قبلوی ، اومسلمانان به دخپل حالت سره سم پر مخ ځی ، شورویانو زموږ دوه میلونه خلك شهیدان کړی ، کورونه یی ټول وران کړی نوبیا دوی ته ورتګ داسلام له نظره بالکل غلط دی.

دپښتودرواج اوددنیا دقانون نه هم غلط دی ځکه ددنیا قانون دادی چې کوم سړی چاته تاوان واړوی نو ټوله دنیا هغه ته وایی چې داتاوان به ورکوی اوبیا به خبری په یوه دریم مملکت کی ورسره کوی نو شورویانو باید دمخه په یوه اسلامی هیواد کی دامنلی وای چې تاوان به موږ ورکوو ځکه روسان دپوځ په لیږلو ګان ملامت بولی نو اوس که دتاوان جبران وکړی بیا په یو دریم هیواد کی هغه هم چې نجیب دمنځه تللی وی اویواسلامی حکومت جوړ شوی وی ، اوس چې روسان دنجیب سره کومك کوی ، جنګ روان دی ، نوپه دی حالت کی دهیئت ورتګ داسی معلومیږی لکه څوك چې دظالم عذر کوی.

پوښتنه : امریکا او شوروی په دی وروستیو کی دافغانستان دلانجی دحل په باره کی موافقی ته رسیدلی دی ترڅو دغه موضوع دسیاسی لاری حل کړی په دی باره کی ستاسی نظر څه دی؟

ځواب : دامریکا او شوروی توافق ته رسیدل بالکل غلط کار دی ځکه همدا اوس روسان دکابل حکومت سره نظامی کومك کوی او ټول وسایل شورویان ورکوی ، امریکا هم چې دمسلمانانو تاکتیك ولید نو پوه شول چې دا تاکتیك کامیاب دی نوپه افغانستان کی اسلامی حکومت جوړیدل دځان دپاره خطر ګنی ، ځکه چې بیا به په امریکا کی هم مسلمانان ازادی غواړی نو دا دسیسه یی رامنځ ته کړه چې په افغانستان کی یو داسی

> **موږ دامریکا ، پاکستان یا نورو خلکو لپاره جهاد ندي شروع کړي ، بلکه موږ دالله (ج) دکلمي دلوړ والي لپاره اوپه افغانستان کي دشریعت دنافذولو لپاره پیل کړي**

حکومت جوړ کړی چې نه مسلمان وی او نه کافر بلکی دهرچاپه نظر برابر وی یعنی دمسلمانانو سره مسلمان او کافرانو سره کافر وی ، چې دغسی حکومت به دامریکا او روس دګټو ساتندوی وی.

پوښتنه : دظاهرشاه په هکله دامریکا او بی ، بی ، سی راډیو ګانی بیلابیلی تبصری خپروی تاسی وواياست چې دافغانستان خلك ظاهرشاه غواړی اوکه څنګه په دی باب څرګندونی وکړئ؟

ځواب : دافغانستان خلك مسلمانان دي ، ظاهرشاه یی داسی منلی ؤ چې هغه به اسلام چلوی خو دهغه دحکومت په وخت کی داسلام خلاف کارونه کیدل ، دهمدغو کمونستانو له خوا په اخبارونو کی دپیغمبر (ص) پوری بد ویل شوی وو ، عالمان ددوی په ضد راپاڅیدل ، مظاهری یی وکړی ، خو ظاهرشاه ددی پر ځای چې دمسلمانانو طرفداری یی کړی وای ، عالمان یی بندیان کړل او دکمونستانو ملاتړ یی وکړ نو اوس هم یوازی فاسق اوفاجر خلك ظاهرشاه غواړی ځکه دادهغوی په فکر برابر دی.

پوښتنه : آیا دجهادی قوماندانانو سرتاسری شورا په ټول هیواد کی دګډواو ډله ائیزو عملیاتو دسرته رسولو دپاره په مشخصه توګه کوم پلان لری ، په دی برخه کی موږته معلومات راکړی؟

ځواب : دافغانستان دقوماندانانو شورا نوه غونډی کړی دي ، چې په هغی کی دهر ولایت قوماندانانو ته وظیفه سپارلی ده ، نو دامکان سره سم هر قوماندان په خپل ولایت کی عملیات شروع کړی دی ،ځکه په دی ورځو کی په هرات کی مجاهدینو یوه ولسوالی فتحه کړی ده او همدارنګه احمدشاه مسعود په شمالی ولایاتو کی یوڅه منطقی فتحه کړی او هم دګردیز شاوخوا ډیری پوستی فتحه شوی دخوست په فتحه کی اودغزنی ولایت جګړه کی هم دسرتاسری شورا قوماندانان موجود دی اوداشورا دکابل دپاره هم پروګرام لری ، اوکومی وظیفی چې یی قوماندانانو ته سپارلی دی ، هغو قوماندانانو خپل امکانات اووسایل په کار اچولی دی ، څنو منطقو کی داسی شوی دی چې هلته محلی شوراګانی جوړی شوی دی ، هغو خپله چې جنګ شروع کړی نه وی یا مخکی تللی نه وی ، یا اکمالات نه وی شوی اویا قوماندان دنورو قوماندانانو سره په شورا بوخت وی ، تر څو په خپلی منطقه کی په اتفاق سره عملیات وکړی نو ددی سببه تر اوسه پوری ډیر کارونه شوی دی اوروان دی نو دافغانستان په ټولو ساحو کي دقوماندانانو سرتاسری شورا قوماندانان دکابل ګوډاګی رژیم دنسکورولو اوپر ځای یی داسلامی حکومت جوړولو دپاره کار کوی او هم دقوماندانانو تر منځ یووالی اووحدت دپاره کار کوی ، خو څنی قوماندانان دخپل تنظیم مشرانو دفشار له امله په

باقی په (٦) مخ

سقوط امپراطوری روس وآماده شدن شرایط برای حل قضیه افغانستان

عبدالوکیل

بعد از اعلام سیاست گلاسنوست وپروسترویکا درامپراطوری روس وشکست نظامی آنها در افغانستان تغیرات وسیع در سیاست داخلی وخارجی روس ها به مشاهده رسید و در ابتدا طوری استنباط می گردید که کمونستان روس میخواهند درپرتو این سیاست به امپراطوری خون اشام کمونستی واستبداد کمونستی خویش رنگ فریبنده دیگر بدهند تا توانسته باشند ازاین طریق به مردم تحت تسلط خویش وجهان فریب داده وبه فعالیت های استعماری وضد بشری خویش ادامه دهند.

لاکن دراین اواخر تحولات پی درپی ایکه درارابطه به نابودی امپراطوری کمونستی روس به وقوع پیوست نشان دهنده سقوط واقعی این امپراطوری دهشت افگن میباشد . از ملحق شدن المان شرق به المان غرب وتشکیل کشور واحد غیر کمونستی ، تغیرات بنیادی در سیاست وحکومت های انعده از کشورهای کمونستی اروپای شرقی (پولیند ، چکوسلواکیا ، هنگری ، بلغاریا ورومانیا)که بعد از جنگ دوم جهانی تحت تسلط امپراطوری کمونستی روس در امده بودند،

تحولات ضد کمونستی وضد روسی درنیکاراگوا ، حبشه ، انگولا ، کمبودیاواقمار دیگر روس ها وهمچنان به استقلال رسیدن کشورهای لیتوانیا ، لتویا ، واستونیا که قبلا تحت تسلط مستقیم روسها قرار داشتند وجز خاك امپراتوری کمونستی روس به شمار می رفتند ، منحل ساختن حزب کمونست روس وسایر تغیرات وتحولات درامپراطوری کمونستی روس وجهان به وضاحت معلوم می گردد که دیگر روسها باخته وجهان امروز در استانه تغیرات اساسی میباشد که نظیر ان از جنگ جهانی دوم تا کنون به مشاهده نرسیده است.

باوجود انکه جهاد وقربانی های مجاهدین افغانستان در سقوط امپراطوری کمونستی روس نقش اساسی ومهم رابازی نمود اما هر گاه انفجار وسقوط این امپراطوری وحشی توسط نیروهای غیر کمونستی جهان از داخل صورت نمی گرفت ومغلوب ساختن آن از طریق برخورد نظامی عملی می شد باعث بوقوع پیوستن تراژیدی وفجایع بی نظیر می گردید.

همراه به مسایل وقضایای داغ جهان که تا حال حل وفصل نگردیده اند قضیه افغانستان نیز از جمله مهمترین،دردآورترین ومشکلترین مسایل عصر ما در استانه حل شدن قرار دارد ودر ارتباط به تغیرات وسقوط امپراطوری کمونستی روس شرایط وامکانات حل آن نسبت به هر وقت دیگر خوبتر مهیا گردیده است،جهان غیر کمونست درحالت کنونی به کشورهای کمونستی ایکه تحت تسلط کامل روسها قرار ندارند (مانند چین ، البانیا ، یو گوسلاویا ، کریا شمالی وکیوبا) با مشکلات نسبتاً بیشترروبروهستند اما رژیم فعلی کابل که دست نشانده روسها میباشد استقلال وصلاحیت ازخود ندارد وامپراطوری کمونستی روسها در حالت نابودی قرار دارد و به مقابل آنها نیروهای جهادی افغانستان وطرفداران آنها میباشند که در حالت وموقف نسبتا بهتری قرار دارند پس هر گاه نیروهای جهادی افغانستان وحامیان بین الملی آنها دراین نوع شرایط از احتیاط وجدیدت کار گیرند ، به اطمینان کامل گفته میتوانیم که مسله افغانستان

« درصفحه ۷ »

له آزاد خوست نه تر کلابند گردیزه

دریمه برخه :

دم ز ، شفیقي لیکنه

فخریو له فخره سرهسك نیولی ، ته به وایی له اسمان سره سیالی کوی ، جوت ښکاری چی پخپله غیره کی به خوندی هستیو ویاړ او ناز کوی ، له هر کړنگ نه یی سړی په خاموشه ژبه ډیر داستانونه اوری ، ته به وایی سړی ته وایی چی :
ودی لیدلی زما په سینه دزماني څه وړحادثی تیری شوی دی

> **دفخریو کلی دخوړ ښي اړخ ته نیم ویجاړ پروت دی ، دلته هم اوسپنی اوباروتو خپل زور ازمویلی،دلته هم دعصرجابرانو خپل خصلت ځلولی اودخپل ضمیر اوارادی مظاهره یی کړی**

ودی لیدل که نه زما په غیره کی روزل شویو اتلانو دتاریخ پانوته څه وړ کارنامی اوحماسی امانت وسپارلی ؟
ایا تاریخ به زما په سینه دتیرو شویو حادثو کیسی پټی کړای شی ؟

ایا زما په غیره کی دیوی ستری شیطاني امپراطوری دماتی داستانونه او کیسی به نړیوالواوری؟
...هو فخری داحق لری چی سریښ لوړوی ، کله دهیواد دغازیانو دلومړنیو مورچلونو نه یو پوخ مورچل دی دسترو اتلانو اوغازیانو دخاپوړو او روزنی ځای دی ، اواوس لاندی دکلابند گردیز په شاوخوا کی دخونړیو او برمیالو غزاگانو دتودو معرکو شاهد اوگواه .
یو ځای لاره یوه خړټانك بنده کړی ده ، دواړو لوریو ته موټر دریدلی اودسرك په سم نیمایئ کی ټانك تپ ولاړ دی

، بس لکه موږ ته چی راښیی چی دا گړنگونه ، دا لاری غرونه او کڅونه زما له توان نه ډیر لوړ دی ، زه په دی پیچومونشم ختلی ، که ختلای شوای نن به دغازیانو په لاس ولجه نه وم ،نن به می دلوراوځټك بیرغونه په سر رپیدل ، دټانك پرسر فاتح غازیان ناست دی په خولویې مرموز تبسم خوردی ، لکه په دی ټانک پوری چی خاندی لکه دیرغلگرو په انجام پوری چی مسخری کوی ، له ځیرونه یی داجوته ده چی په مادی تمدن وسلو او تکنالوژی باید ځوك زړه ونه تړی ځاچی زړونه وړپوری تړلی وو ، چاچی دخپل ژوندانه په چارو کی هغه معیار گرځولی ودایئ دتیروتنی اورسوایی مثال دی .
بس دفاتح او سرلوړی افغان اوشرمیدلی روس ددرامی یو ژوندی تمثیل مو مخی ته دی

دغه ټانك له مسکو نه زموږ دهیواد دایلولو اوغلامولو لپاره راوستل شوی و خونن بیرته دلور او ځټک دغلامانو دوروستیو مورچلودورانولو لپاره په کارېږي ، دادی دتجاوز انجام اودادی دمادی تمدن دبندگانو دشرمیدلی ماتی یوژوندی مثال .
دشلم قرن ابرهه پولادی پیلان راوستل ، هغوی زموږد ملت تش لاس ته کتل ، دهغوی خوباوړ وُ چی دغه پیلان «ټانکونه » به یوازی هغه توغندی «راکټ » له منځه وړی چی مجاهد افغانان یی لری نه ، هغوی دا بایلو له لښکرنه څه خبر وو ، هغوی څه پوهیدل چی تش لاسی افغانان په داسی وسله سمبال دی چی دوی یی هم نه لری ، او دوی ته دا راز هغه وخت څرگند شو چی نور یی ملا ماته وه، نور یی پر مختللی جنگی ماشین

دغازیانو ترپښو لاندی دړی وړی و اونور یی په دی راز پوهیدل اونه پوهیدل یوشان وو.
دفخریو کلی دخوړ ښی اړخ ته نیم ویجاړ پروت دی ، دلته هم اوسپنی او باروتو خپل زوراز مویلی ، دلته هم دعصر جابرانو خپل خصلت ځلولی اودخپل ضمیر او ارادی مظاهره یی کړی ده

ددښمن نیول شوي زغروال ټانك دمجاهدینو په لاس کی

دچنارو ، چار مغزو اوځیړیو غتمی غتمی ونی دی چی شاخونه یی دبمونو پارچو ورسره الوزولی ، او توری

سوځیدلی تنی یی دلیدونکو لپاره یاد گار پریښی دی ، دکلی زیاتره کورونه ویجاړ دی ، نیم ویجاړ کلی دهغه ستر موزیم یوه روښانه بیلگه ده چی دالحاد اوفساد دلښکرو جنایتونه یی خوندی کړی دی.
زموږ دسپارلی موټر دفخریو په مارپیچی کوتل ورخیژی ، دفخریو گړنگونه دچوپو لیدونکو په ځیر پراته دی ، همدغی گړنگونو پر دغه سړك دهغو پردیسو پلی قافلی هم لیدلی چی دهیواد له لری لری ځایونو نه به راتللی ، او

پاتې په (۶) مخ کې

روس او امریکا په گډه ، دسیاسي حل په پلمه دافغاني مجاهدینو د بریالیتوب مخه نیول غواړي

دسید شهریار ژباړه

> دنوای وقت ورځپاڼي په دې وروستیو ورځو کې دجمعیت العلماءاسلام دمشراوپه پاکستان کې داسلامي نظام د داعي سناتور مولانا سمیع الحق سره یوه ځانگړې مرکه کړې موږ یې دمرکې دهغې برخې لنډیز چې دافغانستان دکشالې دسیاسي حل په نامه دروس امریکا گډو سازشونو ته یې گوته نیول شوې دخپلو درنو لوستونکو لپاره ژباړو.

مولانا صاحب ددې پوښتنې په ځواب کې چې دافغانستان دربړې په اړوند دنړیوالو اوسنیو هلو ځلو څنگه ارزیابي کوئ ؟ وویل :
ربړې اوکشالې هوارول غواړي خوداسې هوارې هم نه چې پکې د۱۷ لکو تنو بې ساري قرباني تر خاورو لاندې شي اویا دمؤمنو افغانانو دجدوجهدویاړمن تاریخ په سیند لاهوکړای شي.
دااوسنۍ هلې ځلې خوداسې ښکاري چې دنړۍ لوې طاغوتي طاقتونه یې دهمدې لپاره کوي چې دافغانستان دکشالې دسوله ایز حل په نامه دافغان مجاهدینو په بې ساري مقاومت ، قربانیو اواتلولیو خاورې واړوي ، پدغو ناوړو هلو ځلو کې اوس تر هرچا زیات لاس اوپښې امریکا وهي کومه چې دغتو شیطانانو مور گڼلی شو .
امریکا دخپل نوي نړیوال نظام له مخې داسلام هغه قوت چې دپاکستان اوځینې نورو اسلامي هیوادونو اودمسلمانانو دجهادي

گوندونو په بڼه راڅرگند شوې له منځه وړل غواړي اوداځکه که چیرې دغه اسلامي قوت دمنځنۍ اسیا دازادو شویو اسلامي هیوادونو سره متحد شي نوبیا به یې دنړۍ یوکفري زبر ځواك هم مخه ونه نیولای شي نو امریکا دغه قوت له منځه وړل غواړي امریکا نن ورې اخیستی اوس دځان لپاره ترټولو لوې خطر په افغانستان کې دافغاني مجاهدینو کامیابي اوبرلاسي گڼي امریکا په دې ښه پوهیږي که په افغانستان کې اسلامي دولت منځ ته راغې اودپاکستان اوایران سره یې لاس یو کړ نو بیا خوبې خامخا گټه مرسته اوملاتړ دمنځنۍ اسیا زیښبنل شویو مسلمانانو ته رسیږي

اوچې هغوي ته یې گټه ورسیده بیا نو زما نوې نړیوال نظام څه شي شو؟
دامریکا په هلو ځلو کې چټکتیا له دې امله هم ده چې په نړۍ کې دروس زبر ځواکې توټه توټه شوه دروسانو قوت اوبه شو خودافغاني مجاهدینو له ویاړاوبرم ډکه جهادي مبارزه یې سره نه کړای شوه روسانو دپوځي قوت له لارې دافغاني مجاهدینو مخه ونه نیولې شوه ځکه اوس دامریکاسره دیو گډ سازش له مخې په سیاسي لاروچارو دافغاني مجاهدینو مخه وهل غواړي اوغواړي چې دغه کشاله نوره مخکې ولاړه نه شي اوتش په نامه یوه داسې تصفیه رامنځ ته شي چې

دجهاد مخه ونیول شي.
زه ښه پوهیږم که چیرې ددغه سیاسي حل دهلو ځلو سره دافغاني مجاهدینو هغه جهادي مؤثر ځواکونه چې دټولو افغانانو ملاتړ اوپلوي ورسره ده ملگرتیا ونه کړي اویا هغوی په دې مسله کې له پامه وغورځول شي دغه کوښښونه بې نتیجې اوبې گټې دي ، دادپاکستان دحکومت هم بې ځایه کام دې چې دسولې دراوستو لپاره یې پورته کوي هغه داچې دمجاهدینو دځینو هغو گوندونو چې جهادي ځواك یې کمزورې دي دسولې دراوستو په لار کې مخې مخې ته کوي ددغه وړ گوندونو څخه یو تش په نامه کمیسون هم جوړ شوې ترڅو مسلمانان پدې باوري کړي

چې ټول جهادي ځواکونه ددغه کمیسون ملاتړ کوي اودنوموړي کمیسون هره پریکړه مني نو زما په نظر دغه کار خپل ځان پخپله تیر ایستل دي ځکه مؤثرو جهادي ځواکونو ددغو هلو ځلو اوبې ځایه کوښښونو سره خپل نارضایت څرگند کړې اوکه چیرې په دُې باندې داسې یوه پریکړه تحمیل شې چې ددوي لپاره دمنلو وړنه وي دابه دسولې دراوستو لارنه بلکه دگډوډیو دراپیدا کیدو لار وي اوداځکه چې دغې ۲۸ کسیزه کمیسون کې داسې

گرځیدلي واې نو ټول ترې ۲۱ تنه جوړیده حال داچې دلته ۲۸ تنه دي هغه هم دجهادي تنظیمونو څخه نه بلکه دهغې خوا اودیخوا څخه بله داچې تهران په دغه کمیسون کې خپل اته تنه ځاې کړي دي دلته په پیښور کې میشته دانجینر حکمتیار مولوي خالص استاد سیاف اواستاد رباني جهادي مؤثر تنظیمونه دي خو په کمیسون کې دنشت برابر دي اوکله چې دغو تنظیمونو ته یوه پریکړه دمنلو وړنه وي نوبیا مجاهدین وسله کله غورځوي

> امریکا په دې ښه پوهیږي که په افغانستان کې اسلامي دولت منځ ته راغې اودپاکستان اوایران سره یې لاس یو کړ نوبیا خوبې خامخا گټه ، مرسته اوملاتړ دمنځنۍ اسیا زیښبنل شویو مسلمانانو ته رسیږي.

خلك راټول شوي چې دافغانستان دجهاد څخه تښتیدلی ۱۱ کاله یې په اروپا اوامریکا کې عیشونه کړي اودهغې په داگه ثبوت دادې که چیرې دمجاهدینو داوو تنظیمونو څخه درې درې تنه دنوموړي کمیسون غړي

؟ داخو به دیوې لویې بدبختۍ سبب وگرځي نن به یې دافغانستان په تخت کنیوي سبا به یې وژني افغانستان به هرو مرو دخانه جنگی پلوړ زغلي بیا به همدغه سازشونه نړۍ ته دمجاهدینو دناکامۍ په بڼه

پاتې په (۶) مخ

جهادي ادب

وینې مې چې تویې شوې دریاب شولې
زېرې دبېرې دانقلاب شولې
ډوب یې کړل دعصر فرعونان واړه
ښې شولې چې ډنډ شولې غرقاب شولې

خبرې نه کوي

دعبدالباری غیرت په پله

ملا اسد الله حنیفی

زه چې تول ایره کړمه دظلم او ستم لمبو
بیانو ولې ؟ وایې چې نیران خبرې نه کوي
څرنګه یې مړاوې کړم ته یو ګل راته وګوره
څوك وایي ؟ چې نه کوي نیران خبرې نه کوي
څومره یې روان کړل (پلیګون) ته له زندان څنې
ولې ؟ بیا منکریې چې زندان خبرې نه کوي
وران ویجاړ کورونه له وحشته حکایت کوي
چاویل ؟ چې داکورونه وران خبرې نه کوي
زه دیتیمانو له رنځو اوښکو الهام اخلم
نه منم چې اوښکې په ګریوان خبرې نه کوي
ماته په ځیګر کې دشهید لیدل زخمونه ږدي
مه وایه چې ښکلي شهیدان خبرې نه کوي
ماخو دخپل زړه په وینو ډېر شعرونه ولیکل
څنګه به داوایې ؟ چې دیوان خبرې نه کوي
یه دحنیفي دبدن وینې څومره ګرمه یې
ستا په هکله بیا هم بخیلان خبرې نه کوي

ننګیالي اوخاطري یې

ژوندي ؤ ، مېنه یې وه ،
کور یې ؤ ، خدای (ج) هرڅه ورکړي وو ، ځواني یې وه ، دځواني هوسونه اوجذبات یې نوي راوېښ شوي وو چې په دوه لاري وربرابر شو ، یوې خواته مادي عیش او نوش ؤ ، دژوندانه هرڅه وو ، مال ؤ دولت ؤ ، رنګیني شپې وې ، کبابونه اوشرابونه ... هرڅه وو.
خوبلې خواته دتن په وینو لمبېدل وو ، سربازي وه ، له ژوندانه نه بېزاري وه ، له اور او باروتو سره ډغرې وې ، دوېراو ماتم په کوڅه ورننوتل وو ، دې په دغه دوه لارې کې ډېر ایسار اوتم نه شو ، ډېر زر یې خپل ایمان دډغرو او تکرو میدان ته ورساوه ، دمرګونو اوماتمونو چلینج یې ومانه سرلوړي داحرارو په لښکرو ورګډ شو اوبالاخره یې یوه ښه په همدغه ویاړ منه لاره کې قربان کړه ، ځان راښیی :
محمد طاهر دمحمد ظاهر زوی دلغمان دقرغه یي ولسوالي اوسیدونکی دخوست له فتحې نه شپږ میاشتې دمخه په کابل کې عسکرۍ ته په زور نیول شوی اوخوست ته راوستل شوی دی ، دلته له خپلو څلورو نورو اندیوالانو سره یو ځای له مجاهدینو سره دیو ځای کېدو تصمیم نیسي چې بیا دجاسوسانو لخوا نیول کېږي اودخوست جیل خانې ته لوېږي ، دخوست په ویاړمنه فتحه کې دحق لارویان دزندان دروازه ماتوي اومحمد طاهر ژوندی راوزي ، سمدستي له خپلو مجاهدو ورونو سره دجهاد مورچل ته دانګي اوبیا څو شپې وروسته دالحاد دېرېځو په یوه ځښ شوي مین وربرابرېږي له چاودنې سره سم یوه ښه له لاسه ورکوي .

پښتو او غلامي ؟

محترم نبي خیل

زه یمه پښتون ماپښتني شیدې رودلې دي
زه یمه روزلې خپلې موردپښتنو په خير
زه به خورم خواږه دانسانانو دخوږو په څیر
ځکه مې یواځې دپاك خدای احکام منلي دي

ماپخپلو سترګو پښتني میندې لیدلې دي
زه کتلی نه شم پښتنو ته دپردو په څیر
هیڅکله کاسې دبل څټې نه شم دسپو په څیر
مادبندګانو بندګۍ ته بد کتلي دي

***

څوك چې دبنده قانون مني دبل غلام به وي
خوري به دورور غوښې لکه سپي دښمن دقام به وي
داسې نامردانو خپل قامونه شرمولي دي

تل به وي سرټیټي په سیالانو کې بدنام به وي
پاتې دټره کې اوامین ږغوندې ناکام به وي
دوی هم بیا په خپله بادارانو څملولي دي

***

دامنوچې قام خودي یو جسم سره شلیږي نه
لاس پښه چې ګنده شي نوداجسم بیا رغیږي نه
ځکه مو دسرو وینو مورچلو ته دانګلي دي

دامشهور متل دی چې اوبه په ډانګ بیلیږي نه،،
بې له پریکولو نه یې بله چاره کیږي نه
دغه ګنده غړي موهر وخت له منځه وړي دي

***

دغه ګنده غړي خوزما دبدن غړي دي
تاته خیر دښمنه تاپه څه باندې پریکړي دي
تانه کړم پوښتنه څوك چې ستاپه لاره تللي دي

دوی دمنځه وړل خوبس ترما پورې تړلي دي
اوظالمه هرڅه دې په زور او ظلم کړیدي
تاپه کوم اصول زموږ هغه غړي وژلي دي

***

دازموږ بڼ باندې داورلمبې چې پورې شوې
ډېرې پاك لمنې پښتنې پیغلې سرتورې شوې
څوك شول مجاهد څوك په سرو وینو لمبېدلي دي

لاړو وخت بدل شور نن ورځې زموږ توري شوې
ستوغې سپکې سپورې راپسې خبرې نورې شوې
څوك لا امریکا او اروپا ته تښتیدلي دي

***

جوړ به یو جسد شو خو روان چې شوقران پسې
نورنه شو روان داتش په نوم باندې افغان پسې

پریږدو غلامي اومنږی تږي این وآن پسې
دغو خرڅوونکو ددې پاك افغانستان پسې

څوك چې ،،نبي خیله،، داسلام په لاره تللي دي
خدا یېږو چې سرلوړي دې منزل ته رسیدلی دي

دنور څلي

ژباړه او تولونه : سید عبدالمنان

دیوه پاچا وزیر ډېر زيات هوښيار ؤ يوه ورځ يې له خپلې دندې څخه استعفیٰ وکړه اودالله تعالیٰ په عبادت کې مشغول شو پاچا چې خبر شو پخپله دوزير خواته ورغې پوښتنه يې ځنې وکړه له څه امله دې دندې ته شاکړه ؟
وزير وويل دپنځوو خبرو له امله مې ستاسې وظيفه پرېښې ده پاچا وويل هغه پنځه اسباب کوم کوم دي ؟ وزير وويل دهغو پنځو له جملې څخه اول داته يې چې راته مخامخ ناست يې اوزه درته ولاړيم ته به هروخت ناست وې اوزه به دې خدمت ته ولاړوم خو اوس زه دالله تعالیٰ بندګي کوم کوم چې ماته پخپل عبادت کې (په لمانځه) کې دناستې حکم کوي دويمه وجه داده چې مخکې به ته ناست وې خوراك به دې کاوه او زه به درته ودرېږې تږې ولاړوم ، اوس خداې پاك زما داسې رازق دې چې خپل ذات يې دخوراك څښاك نه پاك اوپه ماباندې يې خوري څښي دريمه داچې ته به ویده وې او مابه دې پيره کوله اوس زه دداسې ذات بندګي کوم چې زه ويده او هغه مې ساتنه کوي څلورم داچې که ته مړشوې واې نوستادښمنانوبه ستا په سر دستونزو او مشکلاتو سره مخامخ کولم اوس مې داسې ذات مالك دې چې تل تر تله به قايم اودايم وي زه اوس دهيچا نه نه وېرېږم .
پنځم داچې زه به ستا دباداری په وخت کې وېريدم چې څه غلطي راڅخه ونشي که نه له کوم عذاب سره به مې مخامخ کوې اوس مې داسې رحيم ذات مالك دې چې که دورځې سل ګناهونه هم وکړم خوچې دزړه له کومې داخلاص توبه وباسم نوټول راته وبښي نواوس ته ووایه چې ستا باداري راته ښه شوه اوکه دهغې ذات بندګي چې دومره ستر اسمان يې بې ستنو ودرولې دې رحيم اومهربان ذات دې .

***　　***

صفوان بن سليم دهمغو معززو تابعينو له جملې ځنې دې چې نن يې هم دزهد اوتقویٰ کيسې کيږي ويل کيږي چې ده دخداې په لاره کې دخپل تن جامې هم ورکولې خو په مقابل کې به يې دخليفه ګانو لخوا رالېږل شو يو تحفو اوسوغاتونو څخه ډډه کوله يوه ورځ دغه مبارك له جومات څخه بيرون راووت ګورې چې په دروازه کې يو غريب سړې لوڅ لغړپه يخنۍ کې ولاړ دې ، سمدستي يې دخپل تن جامې وويستې او هغه ته يې ورکړې بله ورځ همدغه جناب صفوان په جومات کې ناست ؤ پدغه وخت کې مديني منورې ته سلمان بن مالك راغلې ؤ چې دعمر بن عبدالعزيز سره يو ځای يې دجومات نه ليدنه کتنه کوله څه وخت چې دوې دجماعت دروازه خلاصه کړه ويې ليدل چې صفوان ناست دې سلمان پوښتنه وکړه : څوك دې دا بزرګ ! دومره ښکلې څيره خو ماتراوسه نه ده ليدلې ، عمر بن عبدالعزيز ځواب ورکړ دا صفوان بن سليم دې ، سلمان دخپل غلام په لاس پنځه سوه ديناره ورولېږل ، څه وخت چې غلام صفوان ته ورغې صفوان ورته وويل : ته تيروتې يې دابه دبل چالپاره درکړې وې غلام وويل : ولې تاسې صفوان نه ياستې ؟ ويې فرمايل : يم غلام وويل بس داستاسې لپاره دي صفوان ورته وويل ولاړ شه بيا ترې سمه پوښتنه وکړه .
غلام چې څه وخت روان شو صفوان سمدستي خپل پايزار راواخيست او له جومات څخه بيرون ووت بيا تر هغې پورې جومات ته رانغې ترڅو چې سلمان او عمر بن عبدالعزيز په جومات کې موجود ؤ.

غوربوته مې زګيروې دکوم اسيردي چې راځي
که چيغې له مورچل نه دتکبيردي چې راځي
راپورته شي او بيا په خپلو وينو غسل وکړي
خاموشې ګونګوسې مې دضمير دي چې راځي

"چاینا وایت" نوی او خالص هیروئین
انساني ژوندانه ته یو بل ګواښ !!

ژباړه اولنډیز احمد ضیا رحیمزی

سره له دی چی نن دیویشتمی پیړی انسانان په ټوله نړی کی دلوږی ،قحطی ،سیلابیلو ناعلاجه ناروغیو، جګړی ، عامه وژنی ،اوداسی نورو طبیعی اوغیر طبیعی مصیبتونو اوافتونو سره مخامخ دی ، دمخدره یا نشه ایی موادو استعمال اوپه هغی باندی عادت کیدل هم هغه لوی عذاب دی چی دننی نړی بی شمیره لوی او واړه هیوادونه که هغه وروسته پاتی دی یا پرمخ تللی ورسره لاس اوګریوان دی.

دامریکا متحده ایالات اونور لویدیز هیوادونه دخپل ټول تخنیکی پرمختګ سره سره لدی نه عاجز دی ، چی په خپلو هیوادونو کی دمخدره موادو دتولید او قاچاق دلویو لویو مرکزونو مخه ونیسی.

سربیره پردی استعماری ځواکونه "دمخدره موادو قاچاق" دیوی حربی په توګه دخپلو حریفانو دځپلو او ټکولو لپاره استعمالوی چی دبیلګی په توګه دپانامی پر" نوریګا" باندی دامریکایی پوځونو حمله اودمخدره موادود قاچاق په تور دهغه تورن کول یا دولای شو .

استعماری ځواکونه دخپلو تورونو اواتهامونو په لړکی زموږ مسلمان مجاهدین هم دمخدره موادو په قاچاق کی تورن بولی ، ولی داټولو ته معلومه ده چی زموږ مومن مجاهدین چی داسلام اوایمان په خاطر لویی لویی قربانی ورکوی نه یوازی دی ډول ناوړه کارته حاضر ندی بلکه دهغی دمخنیوی لپاره هم ترخپل وس او توانه پوری کوشش کوی ،اوداحقیقت له چاڅخه پټ ندی چی دافغانانو په منځ کی ددی افت درایج کیدو عاملین دافغانانو ازلی اوابدی دښمنان اواستعماری ځواکونه دی .

دکراچی څخه خپریدونکی مشهوری اونیزی« تکبیر» دروان میلادی کال دنومبر د۲۷ می نیټی په ګڼه کی دهیروینو دیوه نوی ډول په هکله دلویدیزومطبوعاتو په استفاده څه مطالب خپاره کړی چی دادی موږ یی لنډه ژباړه لوستونکو ته وړاندی کوو.

درنښت
ژباړن

دنیوزویك اونیزه دروان کال داکتوبر د۱٤ می نیټی په ګڼه کی لیکی ، دغه نوی ډول هیروئین دچاینا وایت په نامه یادیږی ، دغه ډول هیروئین خالص ارزان قیمته اودتنباکو په څیر په اسانی سره داستعمال وړدی .

ددی نوی نشه ای موادو (چاینا وایت) دخپرولو اوځای ته دی رسولو کار او باردآسیایی هیوادونو جنایت کاره ډلګی ، دمنځنی طبقی خلکو (داقتصادی لحاظه) دتسکین لپاره کوی .

دجنوب ختیزی آسیا په طلایی رنګه مثلث ډوله سیمه کی چی دمیانمر، تایلند اولاووس په منځ کی پرته یوه غیر قانونی اویاغی سرحدی منطقه ده مافیا (دمخدره موادو دقاچاق نړیوال مخفی سازمان «ژباړن ») دخپلو منظمو اوقوی لښکرو په واسطه ددی موادو دتوزیع پر ټولو ګټورو لارو کنترول لری ، له کومه ځایه چی دټولی نړی دمخدره موادو سترو مارکیټونو ته دغه لوړ قیمته مال رسول کیږی.

دمخدره موادو قاچاق بران دخپلو موثرو تدبیرونو په کار اچولو سره دغه مخدره مواد له دی طلایئ رنګه مثلث څخه بهر ته استوی ، ددغه موثرو تدبیرونو یوه نمونه داهم ده چی چاینا وایت دورځنی ژوندانه دضرورت وړ په مختلفو جنسونو لکه دخاوری څخه جوړو شویو غټو او وړو مجسمو،په پاکټو کی تړلی هیل ، حتی په تجارتی طلایی ماهیانو کی په خورا مهارت اوهوښیاری سره ځای پر ځای شوی وی ، په پټه کارکوونکی آسیایی جنایت کاره ډلی دمخدره موادو ډیری مهمی اواساسی اډی (دامریکا متحده ایالاتو) ته ددی ډول هیروینو درسولو اوپه هغی ځای کی یی دساتنی ماموریت په غاړه لری.

چاینا وایت ددوهمی درجی هغه مخلوط هیروئین ندی چی په تیرو لسو کلونو کی یی په جګړه مارواود زاړه پلورنی په بازارونو کی شهرت درلود ، بلکه دنیویارك په کوڅو کی په عام قیمت خرڅیدونکی دغه هیروئین ډیر نرم ،او زر تاثیر کوونکی دی اودتمباکو په څیرداستعمال لپاره پیداکیږی ، دمافیادسازمان آسیایی ډلی ، دچاینا وایت په شکل کی دکوکینو ښه متبادله لار پیدا کړی ، چی دمنځنی طبقی په نشه بازانو یی ښه خرڅولای شی .

داښتونکو څخه نیولی تر استعمالونکی پوری ددرك مافیا هر یو غړی په یوه ډول نه په یوه ډول دچاینا وات څخه داثر اخیستنی غوښتونکی دی.

په دفتری توګه په څلورم نمبر هیروینو باندی مشهور چاینا وایت هغه خالص هیروین دی چی په مارکیټونو کی خپاره شوی ، دغه هیروئین په فراوانه مقدار پیدا کیږی ، اوترنورو هیروئینو ارزانه هم دی.

په نیویارك کی چیرته چی دغه هیروئین په ځلیدونکو پاکټو کی "دانیامایت" ،"فراری" اوایت" دیت" په نومونوخرڅیږی ، دټولو هیروئینو دخرڅلانه په سلو کی ۷۰ برخه تشکیلوی.

که څه هم په لویدیزه اروپا کی کوکین په پوره شدت دنشه ای خلکو په منځ کی خپریږی ، اوهیروئین ددی لویی وچی دنشه ای موادو تر ټولو لوی پرابلم جوړ شوی خوبیا هم چاینا وایت هلته خپل ځغلنده نظر ښودلی ، ځکه دبنکاك یا هانګ کانګ څخه دهوایی سفر په واسطه چاینا وایت هلته هم رسیدلی.

دمنځنی طبقی په نشه ای موادو ککړو خلکو ډیر زیات شمیر دچاینا وایت دزلفو په لومو کی نښلی ، ځکه دغه نوی هیروئین دسوچه والی له امله په ډیر کم مقدار اواقتصادی بیه کی نشه راوستلای شی .

اولدی پرته دا اسانتیا هم پکی شته چی نه یوازی دتنباکو په څیر (دسګرټو یاچلم په شکل کی «ژباړن ») څکول کیږی بلکه دنسوارو په څیر دغاښو او شونډوتر منځ هم ایښودل کیدای شی.

اوپدی توګه دمخدره موادو داستعمال یوه اسانه او محفوظه طریقه په لاس راغله چی نه خود په میکروب لړلیو نلکیو داستعمال سره په ایډز باندی داخته کیدلو ویره شته ، اونه ډیر مقدار په زور داره کش سره دمړه کیدو اندیښنه

ددی نوی ډول هیروئینو استعمالونکی هم دډیر مقدار داستعمال همداسی عادی کیږی لکه دنلکیو له لاری دهیروئینو استعمالونکی، ولی دتنباکو په څیر څکول اودنسوارو په توګه په خوله کی ایښودل نسبتاً کم مهلك وی ، ځکه چی استعمالونکی په عام ډول دهیروئینو دمهلك مقدار له جذب څخه دمخه نشه کیږی.

په امریکا کی په مخدره موادو باندی دقانون دنفاذ داداری یا D.I.A مشر رابرت برائیدن وایی چی دکوکینو او کریکو عادی زیات شمیر استعمالونکی په هیروئینو باندی هم عادت کیږی ، اوله احصائیو څخه هم داپه ډاګه کیږی چی دکوکینو او کریك عادی خلك په ډیره زیاته پیمانه هیروئین هم استعمالوی .

ددی نوی ډول هیروئینو دعام استعمال څخه وروسته دامریکا په متحده ایالاتو کی دهیروئینو دغلط استعمال په میلان کی کموالی راغلی ، دمخدره موادو دغلط استعمال ملی اداری دیوی احصائی له مخی له ۱۹۸۲ کال څخه راپدیخواه

پاتی په(۷)مخ

دنور په لور
زه ولی مسلمان شوم ؟

تهامس ارونګ«کاناډایی»

داسلام له منلو نه وړاندی اوورسته چی پرماکومی جذباتی اوذهنی تجربی تیری شویدی دهغی دبیان نه دمخه لازمه ګڼم ووایم چی په امریکااوکاناډا کی په زرګونو ځوانان دی چی کیفیت اوجذبات یی زماپه څیردی زماپوخ باوردی که هغوی ته په مناسبه او اغیزمنه طریقه داسلام پیغام ورسول شی هغوی به یی په منلو کی یوه شیبه هم تردداوځنډ ونه کړی او هغوی هسی هم داسلام منلو په پلمه پسی ګرځی .

اوترکومه ځایه پوری چی زما داسلام راوړلو په داستان پوری اړه لری اوس هم زماهغه دهلکتوب وخت ښه یاد شی چی ما دعیسوی دین دعقیدی سره سم دحضرت مسیح (ع) ددین تقلید کاوه خوددی دعویٰ نه شم کولی چی زه تل دعیسوی عقیدی پیرو اومنونکی وم .

په هلکتوب کی می سربیره پردی چی دبایبل زیاتی کیسی یادی وی ، خوکله به می چی فکر کاوه نوپه حیرت کی به ډوب شوم چی دبایبل له لوستلو سره سره خلك له مذهب نه ولی لری دی ؟

دهمدغه یوه کتاب «بایبل » په باب دعیسویانو اویهودیانو نظرونه ولی سره توپیر لری اوبیابی دینه اوبی لاری خلك ولی ملامت دی .

چی دبایبل له عقیدی سره سم دوی له ازله ګنهګار دی اوپه دی ګناه اوګمراهی کی ددوی هیڅ قصور نشته

دی خیال هم زیات ځورولم چی عسویان اویهودیان ځانونه تر نورو قومونو اودنورو ادیانو تر پیرویانو بهتر او لوړ بولی خو په نیکی او له خدای (ج) نه ویره پسی ، بیاولی نه ګرځی ؟

دهغی زمانی خبره ده چی کله له هندوستان نه یو پادری « عیسوی دین عالم » راغی او په ډیره کرکه او بیزاری می وویل چی هلته « په هندوستان کی » دمحمد (ص) پیروان پر خپل دین ډیر کلك ولاړدی اوپرهغوی زموږ هیڅ جادو او منتر کار نه کوی .

داسلام په باب دازمالومړی خبرتیاوه ، ماټکان وخوړ بی اختیاره ددغو خلکو په باب په زړه کی دتحسین جذبه رااوچته شوه کوم چی اوس هم پخپل مذهب پابند ولاړ دی ،زماپه زړه کی سره له دی چی داسلام په باب ناخبره وم هغه ته نیکی جذبی راویښی شوی . په زړه کی می ددی هیلی په غورځنګ شوی چی داسلام په باب وپوهیږم . زما دغه هیله هغه وخت ترسره شوه چی کله پوهنتون ته ولاړم اودختیځ فرهنګ اوتمدن په باب می زده کړی پیل کړی ، دخدای (ج) دپیژندنی ټولی پولی می یوه په بله پسی ووهلی او دذهن غوټی می خلاصی شوی حضرت مسیح (ع) دیوه مهربان او رحیم خدای (ج) تصور راکړی و خو مالیدلی چی دغه عقیده دوهم پرستی په ګردونوکی ورکه شوی ده او بوت لمانځنی یی اغیزی له منځه وړی دی .

چیرته یولوری داتبلیغ اوتوصیه چی ستر خدای (ج) ډیر مهربان اورحیم ذات دی اوچیرته بیا دا چی له سختی واسطی او سفارش پرته هیڅ انسان هغه ته نه شی رسیدای دی خبری زماپه ذهن کی داخبره پخه کړه چی عسویت سم مذهب نه دی یوی داسی نظریی او عقیدی ته ضرورت دی چی انسان حق وی او انسان دیو خدای (ج) لوری ته ور سمولو توان او اثر ولری ، ددی مقصد دترلاسه کولو لپاره می داسلام په باب مطالعه پیل کړه او ډیر زر حیرانوونکی واقعیتونه راته ښکاره شول ، حضرت محمد (ص) له حضرت عیسٰ (ع) نه اوه سوه کاله وروسته هغه وخت دیوه واحد خدای (ج) په لوری بلنه پیل کړه چی اروپا په نیم وحشی ډولژوند درلود ، دمریم اوعیس (ع) پرستش کیده ، او دعقل اومنطق پر خلاف مذهبونو رواج موندلی و .

په دغسی وخت کی چی حضرت محمد (ص) دنیاته کوم نوی پیغام راوړ عقل اوشعور هم دهغی تائید کاوه ، اوربښتیا چی همدغی دعوت او پیغام په دنیا کی یومخیز ډیر ستر انقلاب راوست .

ماداسلام په باب ډیر کتابونه ولوستل دبمبی یو کاروباری دوست ماته دH.W.LOVE.GROVE یو کتاب WHATISISLAM؛ «اسلام څه شی دی ؟ »راواستاوه، زما په خیال دغه کتاب داسلام په عملی اړخ او په انسانی ژوند انه کی دهغه پر برکاتو ترټولو ښه شرح کوونکی ؤ ، بیا زما همغه دوست دمولوی محمد علی دقران ترجمه او ځنی نور

پاتی په (۷) مخ

"چاینا وایت"نوی او خالص ...

دپیچکاری په واسطه په بدن کی دمخدره موادو

داستعمالونکو شمیر په یوډول دی ،په ټوله امریکا کی ٤٥٠٠٠٠یکسه دمخدره موادو ددی ډول استعمالونکی دی چی دهغی نیمه برخه یوازی په نیویارك کی اوسیږی ، دامریکا دشفاخانو په عاجلو شعبو کی دهیروئینو مربوط دوسیو کی په تیرو دریو کلونو کی څه خاص کموالی راغلی ،ولی بیا هم په امریکا کی دمخدره موادو ماهرین چی له ۱۹۸۰ څخه تر ۱۹۸۹ پوری دکوکینو او کریکو دپراختیا څخه اندیښمن وو ، دهیروئینو دخپریدو ددی نوی څپی په هکله هم پوره فکر وړی دی ، دامریکا په داخلی بندرونو کی دګمرك مامورین هره ورځ په زیاته اندازه هیروئین لاس ته راوړی، دچاینا وایت هیروئینو قیمت هم ورځ په ورځ راټیټیږی ، پدی ورځو کی په نیویارك کی دغه هیروئین کیلو په "۱۵۰۰۰۰" ډالره په عامه او پراخه پیمانه خرڅیږی ، پداسی حال کی چی په تیرو څلورو کلونو کی کیلو په "۲۰۰۰۰۰" ډالره خرڅیدل.

په عامه توګه دیوه خوراك نرخ لس ډالره دی ، ولی دغه نرخ کله کله دریو ډالرو ته هم راکوزیږی ، پداسی حال کی چی بالکل خالص ډول هیروین وی.

په اوسط ډول چاینا وایت په سلو کی ٤٠ خالص دی ، پداسی حال کی چی په کوڅو کی خرڅیدونکی پخوانی خراب هیروئین یوازی ۳ فیصده خالص وی ، ددی یوه وجه داهم ده چی دچاینا وایت دتقسیم او رسولو انتظام ډیر ماهرانه دی، تولیدونکی ددی کنټرول هم کوی چی دغه هیروئین دکوڅو تر پلورونکو پوری په رسیدو سره له بل څه سره مخلوط نه شی .

«نوربیا»

چاینا وایت پدی ورځو کی په نیویارك کی دغه هیروئین کیلو په "۱۵۰۰۰۰" ډالره په عامه اوپراخه پیمانه خرڅیږی ، پداسی حال کی چی په تیروڅلورو کلونو کی کیلو په "۲۰۰۰۰۰" ډالره خرڅیدل

روس او امریکا په افغانستان کی ...

خپلو کارونو کی سست وی ، ځکه مشران ویریږی ، چی په راتلونکی کی به حکومت دقوماندانانو دسرتاسری شورا په لاس لویږی .

پوښتنه : دنړی دهیوادونو دمرستو بندیز به دافغانستان په روان وسله وال جهاد کومه اغیزه ولری او که نه ، په دی باب ستاسی نظر څه دی ؟

ځواب : جهاد الله (ج) په مسلمانانو فرض کړی دی اوبیا ددی دپاره الله (ج) فیصله کړی ده هغه خلك چی زما په دین جنګیږی او زما دقانون دپاره دخپل سراومال نه تیروی دهغوی مرسته زه کوم او هغوی ته دکامیابی لار زه ښایم نو جهاد موږ دالله (ج) په توکل شروع کړی دی موږ سره وسله نه وه ، دالله په مرسته مووسله په غنیمت ونیوله او هم یی راته ددنیا دخلکو پام راوګرځاوه تر څو زموږ سره کومك وکړی ، نور هم دالله (ج) دربار بند نه دی که ټول کومکونه ودریږی ، موږ به خپل جهاد ته دوام ورکوو دا جهاد موږ دعربو ، پاکستان ، امریکا ، چین اویا کوم بل شخص دپاره نه دی شروع کړی ، بلکی دا جهاد موږ دالله (ج) دکلمی دلوړ والی دپاره اوپه افغانستان کی دشریعت دنافذولو دپاره شروع کړی ، نو ترڅو چی ژوندی یو خپل فرض به ادا کوو که په افغانستان کی شریعت جاری شو ، نوبیا به دنورو کفارو سره جهاد کوو مګر دامجاهدین هیڅکله په دی باندی نه بزدله کیږی نه دجهاد نه کښینی که ددنیا ټول کومکونه بند شی نوبیا به هم زموږ جهاد جاری وی.

پوښتنه : دعمومی انتخاباتو په هکله چی په دی ورځو ځنی ډلی غواړی له هغی لاری خپل استازی قدرت ته ورسوی ، داسلام دمبین دین له نظره دغه کار څنګه څیړئ اوهم باید ووایئ چی دښځو حقوق داسلام له نظره کوم دی؟

ځواب : عمومی انتخابات داسلام له نظره نه شته پیغمبر ص دافرمایلی دی چی تاسو به په خپل منځ کی یو پوه عالم سړی مخکی کوی هغه به تاسو ته رهنمایی کوی داسی یی هیڅیری نه دی ویلی چی عام خلك به کښینی اومشر ته به لارښوونه کوی.

اوبل داچی په دنیا کی فاسق اوفاجر ډیر دی دهغوی فسق خوښیږی ، اودین یی بلکل نه خوښیږی که داسی وی اوپه ټوله دنیا کی انتخابات وشی نو بیا خو کفار ډیر دی نومسلمانان به ورسره قناعت ولری ،خونه داسی نه شی کیدای اوهم دظاهرشاه په وخت انتخاباتو درشوت اوپیسو په زور فاسق اوفاجر کامیاب شول چی دهغی جملی څخه کارمل ، اناهیتا هم دشورویانو دپیسو په زور کامیاب شول ، اودپکتیا ولایت څخه هم بهرام چی یو لوی کافر ؤ دپیسو په زور کامیاب شو اودهغه په مقابل کی بیاچا مولوی صاحب ته خپله رایه ورنکړه.

داسلام له نظره ښځه په انتخاباتو کی برخه نه شی اخیستلای اوالله (ج) فرمایلی دی چی نارینه په ښځو حاکمان دی.

پوښتنه : دیو دینی عالم او تکړه قوماندان په صفت ستاسی په نظر په افغانستان کی سوله اوامنیت څنګه تامین کیدای شی ؟

ځواب : په یوه هیواد کی چی مسلمانان په اسلامی اصولو برابر ژوند کوی ، هیڅ جنجال وجود نه لری نو یوه عالمان کښینی اویو نفر ته قدرت وسپاری اوهغه بیا داسلام برابرۍ فیصلی صادروی.

اوکله چی کوم ځای کی جګړه رامنځ ته کیږی نو په عمومی جګړو کی داسلام داصولو سره هر ځای ته چی پیغمبر (ص) تللی دی یا صحابه یی لیږلی دی نو دجنګ قوماندانانو امنیت نیولی دی او خلك یی تسلیم کړی دی ، بیا یی وروسته دهغی منطقی دپاره یووالی

پاتې په۷م مخ

له آزاد خوست نه تر کلابند ...

بیرته تللی ، هغه قافلی چی پرسر به یی خونړی حادثی تیری شوی وی ، اویا داچی وراندی په لاره کی به یی حادثو انتظار کاوه ، خونړیو حادثو برګیو هلیکوپټرو غلچکی بریدونو، ناځوانمردانه کمینونو او دلری ویشتونکو توپونو او راکټونو ړندو ډزو .

خو نن دبرمیالوغازیانو هغه ډلی هم ښاری چی په همدی لاره دګردیز پلو روانی دی ، دهیواد نورو برخوته تیریږی ، هغه غازیان اواتلان هم وینئ چی په څیرو کی یی دفتحو اوبریو نخښی دی په تندیو یی دحق دلښکردبری علامی دی ، اودباطل درانسکوریدواوورکیدو اشاری.

همدغه ګرنګونه شاهد دی چی دلته دخدای (ج) پر دین دننګ په لاره راوتلی پر دیسیان دواورو په خیته کی ورك شول ، واورو وخوړل ، سړو وژل ، الوتکو او بمونو وځپل ، او اوس همدغه ګرنګونه پردی هم ګواه دی چی دهمغو پردیسو شهیدانو ... رنګ راوړی .

پاس په ګرنګونو کی څلور پنځه دتندر په څیر دغتو ډزو غږونو انعکاس وموند او شاوخوایی ټول په څپو کی رانغښتل ، څلور پنځه ځایه توری لوخړی جګی شوی ، خونور ددی چاپیریال اوسیدونکو ته داڅه غیر معمولی اوفوق العاده خبره نه ده ، غټی چاودنی وی ښایی اوراګان وی خو چاداسی هم نه ګڼله لکه دتوپکوډزی ، ټول ورسره بی پروا غوندی وو .

که کوم بهرنی دغه حالت وینی نو خامخا به ددی ځای په اوسیدونکو دناپوهو او ... نومونه ږدی ځکه داخو خطرناکی ډزی وی ، باید عکس العمل ښودل شوی وای ، باید امنیتی تدابیرنیول شوی وای خو دلته داخبری زړی او بی خونده وی دلته نور اوراګان سکډ او ناپالم خپل خطر ناکتوب له لاسه ورکړی ته به وایی دکوم فلم صحنه ده کوم خیالی او تخنیکی صحنه چی له حقیقت سره هیڅ اړه نه لری ،خو داسی نه ده ، همدغه بمونه راکټونه اوخطرناکی وسلی له خپل ټول خطر ناکتوب سره سره دلته بی کاره شویدی ، په دې ماحول کی دساینسی تجربو عقل او منطق په اساساتو ژوند ګران دی ، دلته به یوازی دایمان په اساس ژوند کوی ، دلته چی څوك راځی باید مرګ یی وژلی وی ، باید مرګ ورته بی مفهومه وی ، دلته به دشهادت له ارمان او حوصلی سره راځی که نه رښتیا هم دلته ژوند تر ګواښونو لاندی دی خطری دی ، بمونه دی ، راکټونه دی چی هره لحظه یی داستقبال احتمال شته .

ددی ځای پر چوپتیا داباور نشته چی څو شیبی وروسته به هم وی او په غوغا یی هم همدغسی چوپه چوپتیا وی ، ته به وایی داغرونه ګرنګونه ، انسانان ځمکه اواسمان ټول په درانه خوب ویده شوی دی ته به وایی ټول کاینات په ابدی خوب پریوتلی دی ، اودقیامت انتظار باسی ، خوناڅاپه به فضا دالوتکو کرسهار په سر واخلی ، دبمونو او راکټونو دروند غږ به ځمکه وښوروی ، کاینات به دشور او ځوږ په څپو کی داسی ډوب شی لکه خاموشی چی مړه وی بلکل یی وجود نه وی .

هوکی ! دلته هرڅه عارضی دی یوازی یوڅه نه ، ددی ځای داوسیدونکو اراده او ایمان لا ثابت ولاړ دی ، داپاس کنډونه بمونو او سکړونو راښویولی ، او کندو کړی دی ، لویی لویی ونی له ریښو سره سرچپه پرتی دی ، خو ددغه ځای داوسیدونکو ایمان او اراده نه دی بدل شوی او همدغه ایمان او اراده وه چی دشلم قرن دستری معجزی سبب شوه .

«نوربیا »

روس اوامریکا په ګډه ، دسیاسي حل ...

څرګندوي اووایي به چې مجاهدین حکومت نه شي کولي پخپلو کې جنګیږي امریکا به وایي چې مانه ویلي چې داخلك دحکومت کولو جوګه نه دي په دوي کې اهلیت نه شته خو زه داوایم چې دمسلمانانو اواسلامي هیوادونو دکشالو سره دامریکایانو څه اړیکي دي که څوك حکومت کولي شي اوکه نه ! داهم یو څرګند حقیقت دي چې پاکستان دافغانانو سره نه هیریدونکي کارنامي ترسره کړي دابه دافغانانو دتاریخ زرین بابونه وګرځي خواوس دپردې شاته ځنی قوتونه دپاکستان دغه نیك نامي په بدنامۍ بدلول غواړي مسله به هم حل نشي اوکټلي جنګ به وپایلل شي اوکه بیا هم خداې مکړه داسې و شي نودا به دافسوس ځاې وي چې موږ په هره خبره اوهر کارکې دامریکایانو محتاج واوسو.

مولانا صاحب دیوې بلې پوښتنې په ځواب کې چې ایا دکشمیر دکشالی په باب دپاکستان دحکومت دچال چلند نه ډاډه یاست؟ وویل : دافغانستان دمسلمانانو سره دملګرتیا احساسوُ چې پاکستان دګردې اسلامي نړۍ زړه وګرځید خو پاکستان دکشمیر او منځنۍ آسیا په مسئلو کې ډیر غلې دې دبالتیك ریاستونه پاکستان دامریکا له ویرې په رسمیت وپیژندل خو کشمیریان اودمنځنۍ آسیا مسلمانان یوه خوا اوبله خوا ګوري حال داچې موږ په وار وار وویل چې باید لومړې امریکا دمنځنۍ آسیا اسلامي هیوادونه په رسمیت وپیژني دکشمیریانو په باب له هند سره خپلې اړیکي وشلوي خو کفري طاقتونه کله دمسلمانانو سره په صداقت چال چلند کوي اوس نو دکشمیر شخړه تاسې پخپله وینئ کشمیریان قربانۍ ورکوي وینې تویوي دخپل حق لپاره خونړیوال چوپه خوله ناست دي زه دپاکستان داوسني حکومت څخه کلکه غوښتنه کوم چې باید دضیاء الحق په هغه قدم قدم کیږدي کوم چې هغه افغاني مجاهدینو سره په ملګرتیا کې ایښي ؤ افغانانو دروس په څیر لوې قوت ټوټه ټوټه کړ دهند قوت به لاڅه وي چې کشمیریان دتل لپاره ترخپلې سلطې لاندې وساتي ، قوت خو دمسلمانانو دې چې یو ځل راپورته شي نوبیا یې دنړۍ یو زبر ځواك هم مخه نشي نیولاې .

اعلامیه کمسیون عالی شورای سرتاسری قوماندانان جهادی افغانستان

همانطوریکه ملت مسلمان وقهرمان افغان به بهای خون خویش سبب شکست واخراج قوای اشغالگر روس وپارچه شدن امپراطوری اتحادشوروی گردید که سالانه حد اقل یك مملکت به اقمارش علاوه می گردید وباازادی مستعمراتش به روسیه کوچك تبدیل گشت هم اکنون باید با درنظر داشت تحولات سیاسی چی در منطقه وچه در ساحه بین المللی وتاثیران بالای قضیه افغانستان ایجاب مینماید که این ملت مسلمان وقهرمان ثبات ووحدت خود را حفظ نموده بادرایت کامل اوضاع را تعقیب وبمقصد بر اوردن ارمان های اکثریت ملت مظلوم عمل گردد.

هرگاه درکدر سیاسی موجوده متعلق به قضیه افغانستان مخالفت ها ودوپارچه گی صورت گرفته رد وتائید ان بشکل منفرد ودوپارچه گی از جانب قوماندان های جهادی توام باخطرات بزرگ مواجه می گردد وغرض جلوگیری از ان باید برای اینده یك پالیسی متحد ومعقول که بخیر وسعادت مردم افغانستان بوده باشد طرح گردد.

وهم هرنوع اقدامیکه هدف ان انتقال قدرت از رژیم ملحدکابل استقرار نظام اسلامی تامین صلح وامنیت درمملکت باشد چون تطبیق کننده گان عملی واصلی ان قوماندانان مجاهدین میباشد بمقصد جلوگیری از دوپارچه گی وپراگنده گی که منجر به خانه جنگی میشود ازهمین حالا پروگرام وپالیسی سیاسی متحد ومشترکه لازم وضروری پنداشته میشود .

درخصوص قوای مسلح وقوای امنیتی برای اینده مملکت ازهمین اکنون باید پلان های لازمه ترتیب شود.

غرض اعمار مجدد افغانستان جلب مساعدت ها وتشویق موسسات نیز ایجاب میدارد که قوماندانان جهادی دارای طرح وپلان بوده بین هم مساعی مشترکه داشته باشند درخصوص تاسیس شوری ممثله که عبارت از قوماندانان منتخب مجاهدین علمای کرام - مشران اقوام وتعلیمیافته گان با دیانت میباشد نیز مساعی جدی را ایجاب مینماید بنابر مقاصد فوق کمسیون عالی شورای سرتاسری قوماندانان جهادی افغانستان درجلسات خویش که به تاریخ ۳۰ عقرب ۱۳۷۰ اغاز ومدت سه روز ادامه داشت در قسمت بعضی موضوعات مهم بحث همه جانبه نموده در نتیجه به فیصله های اتی توافق کردند .

۱- فیصله وتصویب بعمل امد تا اجلاس سوم شوری سرتاسری باشرکت قوماندانان مهم از تمام ولایات کشور در ظرف چند هفته اینده بر گزار گردد.

۲- مجلس روی اجندای شورای سوم بحث نموده بادرنظرداشت جریانات فعلی و اماده گی برای اینده مواد ده فقره را ترتیب واحضار کردند.

۳- هیئت های تعین شده اجندا را باخود داشته به همه نقاط کشور سفر نموده بعد از تفاهم باقوماندانان جهاد غرض اشتراك به شورای سوم از ایشان دعوت مینمائید.

اخرین تلاش گرباچف بخاطر ارتباط سیاست خارجی بانظام مرکزی

،فرانس پرس اژانس :

ماهرین امور شوروی درغرب به این عقیده اند که مهمترین وظیفه شوارد نادزی بحیث وزیر خارجه شوروی نگه داشت وحفظ وقار اتحاد جمهوریت های شوروی درسطح بین المللی می باشد ، وی باید همان حیثیت شوروی را در ستیج بین المللی اعاده نماید که در دوران جنگ سرد بین المللی داشت.

بعد از تبدیلی هاوتغیرات فعلی در روسیه اختیارات وصلاحیت ها از دست افراد مرکزی روبه اختتام می رود ، وجمهوری های مختلف آن بسوی ازادی قدم بر می دارند .

درحالات فعلی اقدام مسکو مبنی بر تعین شوارد نادزی بحیث وزیر خارجه شوروی از نظر یك مبصر وتحلیل گر سیاسی امریکا اخرین تلاش گرباچف است بخاطر ارتباط دادن سیاست خارجی شوروی با نظام مرکزی مبصر موصوف می نویسد : شوارد نادزی حیثیت معاون کشتی بان درکشتی درحال غرق شدن شوروی رادارد .

وضع اسفبار سیاسی واقتصادی شوروی اکنون از هیچ کسی پوشیده نیست حتی چندی قبل در طول کنفرانس صلح شرقمیانه درمادرید ، هیات اشتراك کننده روسیه نمی توانستند بل مصارف هوتل خویش را بپردازند.

زه ولی مسلمان شوم ؟..

کتابونه هم راواستول ، په «مونتریال» کی می هم داسلام په باب په فرانسوی ژبه زیات کتابونه ولوستل ، ددی نتیجه داشوه چی زماټولی پوښتنی حل شوی او په ذهن کی می څه شك او وسوسه پاتی نه شوه .

بالاخره زه پدی باوری شوم چی حضرت محمد (ص) دخدای (ج) ریښتینی پیغمبر دی اوهغه ته دبشریت زیات ضرورت هم ؤ، ماچی تراوسه پوری څه نتیجی تر لاسه کړی وی بشپړی اختیاری وی ، علم او عقل می په هغو گواهی ورکوله ، ترهرڅه وړاندی په سپیڅلتیا او تقدس کی ډوب قران شان اوداسلام دناجی حضرت سرورکاینات ډیرو سوچه او سپیڅلو تعلیماتو زماپه زړه هجوم راوړ اواسلام ترلړنه زیات روښانه زمامخی ته راغی او ماهغه قبول کړ .

سقوط امپراطوری روس واماده شدن ...

چه از طریق نظامی وچه از راه مسالمت امیز به نفع مردم مجاهد ومسلمان افغانستان ونیروهای صلحدوست وعدالت پسند جهان حل خواهد شد ولی در حالت کنونی نیروهای جهادی افغانستان ودوستان ان ها درپهلوی سایر مشکلات وپرابلم هابه یك پرابلم جدی دیگر نیز رویه رو هستند که عبارت از باز سازی وعیار ساختن نیروهای جهادی بخاطر بدست گرفتن قدرت سیاسی وبه پیش بردن دولت ودولت داری به طور نور مال ومطابق به خواسته ها وشرایط معاصر ملی وبین المللی میباشد.

نیروهای جهادی افغانستان از آغاز جهاد مسلحانه تاحال بخاطر نبرد علیه نیروهای اجنبی،مزدور وملحد دراین کشور طوری عیار شده اند که امکانات هرچه بیشتر خوبتر وموثر تر جهاد را داشته باشند درحالیکه اکنون به مرحله دیگر جهاد نایل شده ایم ودرآینده نه چندان دور سرنوشت ملیون ها هموطن مسلمان ومجاهد وکشور افغانها دردست نیروهای مجاهد ومسلمان قرار خواهد گرفت پس بخاطر اینکه تنظیم های جهادی وسایر نیروهای اسلامی وازادی دوست افغان ازاین مسؤلیت بزرگ وتاریخی به طور پیروزمندانه بدرشده باشند ضرور است که همه اختلافات خورد وبزرگ راکنار گذاشته بنام اسلام ووطن واحد وبنام ملیون های شهید ، یتیم وبیوه مانند یك مشت کوبنده باهم متحد شویم و علیه هر نوع دشمن اسلام وطن وآزادی تااخرین رمق زندگی مجادله نمایم تا توانسته باشیم یك افغانستان اسلامی ، مستقل ، عدالت پسند وشگوفان رادراین کره خاکی بمیان بیاوریم .

گردیز دمجاهدینو تربرمیالو بریدونو لاندی

پکتیا ، جهاد هنداره :

دپکتیا ولایت دالحاج مولوی جلال الدین حقانی دجبهاتو څخه دجهاد هنداری خبریال خبر راکوی چی دمزدور رژیم قواوو دعقرب په ۲۶ مه او ۲۷ مه نیټه په گردیز کی دیولړ بریدونو په ترڅ کی غوښتل دمجاهدینو څخه نوی نیول شوی سیمی ونیسی چی دمجاهدینو له خوا هغوی ته درنو تلفاتو په اړولو سره دغه بریدونه په شا وتمبول .

په دی عملیاتو کی درژیم دوه عرادی ټانکونه اوسو شمیر افراد له منځه لاړل .

همدارنگه دیوه بل خبرله مخی دعقرب په ۲۸ مه په گردیز کی ددښمن دپرتو قواوو په منځ کی سخته خپل مینځی جگړه ونښته خبر وایی دغه جگړه دگارد خاص او څارندوی ترمنځ پدی خبره باندی پیل شوه، چی لومړی باید څوك پر مجاهدینو برید وکړی او دری ساعته یی دوام درلود .

رپوټ وایی دگردیز په کلابند ښار کی درژیم قواوی له یوی خوا دمجاهدینو دډیرو توندو بریدونو لاندی دی ، له بلی خوا په خپل مینځ کی هم پوره بی اتفاقه دی اوهره ورځ ددوی په مینځ کی دلویی جگړی دواقع کیدو امکانات لیدل کیږی .

روس-امریکا ...

مقرر کړی دی .

اوس هم دافغانستان جهادی قوماندانان دنجیب دمنځه تللو وروسته سره کښینی اودوی حکومت جوړ کړی چی دغه حکومت به انقلابی شورا لری ترڅو امنیت راوړی نو دامنیت راوستلو وروسته به دینی عالمان راټول کړی او هغوی به دحکومت مشر وټاکی اوکه جهادی قوماندانان امنیت ټینگ نه کړی هیڅوك حکومت نه شی کولی.

دبری وروستی پړاو مسوولیتونه او مکلفیتونه

کلونو کی چی څومره موږ دوروستی بری پړاو ته نږدی شوی اودسرنوشت ټاکنی شیبی موپه رارسیدو شوی داسلام دښمنو طاغوتی ځواکونو توطیی ، گډ سازشونه ، شومی اوناولی هڅی زیاتی او لاپسی گړندی شوی دی. داچی زموږ دښمنان دخپلو توطیو په عملی کولو کی تر کومه حده بریالی ډاودی او موږ هڅومره په وړاندی غافل وو اویو ، له دغه امله تراوسه زموږ په جهادی ځواك او پاڅون څه وړ اثرات مرتب شوی او مرتب کیدونکی دی ، زموږ دبشپړ بری په لار کی یی څومره او څنگه خنډونه رامخی ته کړی او... داټول هغه بیلابیل موضوعات دی چی دلته پری اوږده بحث اوپوره تفصیل ته کومه اړتیا نه لیدل کیږی ، خو دومره یادونه اوپه دی پوهیدنه ضروری ده چی زموږ ددښمنانو ددی وړ هلو ځلو تر شا څه او څنگه شوم اهداف نغښتی،له دغه اړخه زموږ اسلامی انقلاب اوستر ارمان له څه ډول گواښ اوتهدید سره مخامخ او دطاغوتی ځواکونو دتوطیو او گډوسازشونو دشنډولو اوبی اغیزی کولو په وړاندی موږ څه مسوولیتونه او مکلفیتونه لرو.

اوس چی طاغوتی ځواکونو زموږ داسلامی پاڅون په وړاندی گډ صف نیولی ، په یوه خوله شوی او هریوترخپله وسه داهڅه کوی چی زموږ مالی او ځانی قربانی مطلوبی نتیجی ته ونه رسیږی او موږ له خپل اصلی مسیر او ستر ارمان څخه،چی دهغی لپاره موداټولی ستونزی په ځان منلی او زغملی دی،منحرف او منصرف کړی .

څکه نو دوی په خپل ټول ځواك تر ممکنه وسیلی داهڅه کوی چی په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس دیو اسلامی حکومت دقیام چی طاغوتی ځواکونه یی دځان لپاره دیو ستر خطر او چلینج په توگه احساسوی ، مخه ونیسی .

روسان خو زموږ له انقلاب نه په دی ویره کی دی چی که ددغه انقلاب په نتیجه کی په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړ شی ، یوخوبه ددوی تر ښکیلاکی سلطی لاندی اسلامی هیوادونو په راویښولو اوپه دغو هیوادونو کی داسلامی غورځنگونو دپیاوړتیا له پاره ترهرڅه اغیزمن ثابت شی اوبل داچی دمجاهدینو په لاس جوړ شوی حکومت کی به نه دوی ته دپښی ایښودلو ځای وی اونه به یی دکټودخوندی کیدلو لار او شرایط،د افغانستان دروانی جگړی له اړخه رسیدلی زیان به هم پری جبیره کوی او-امریکا ددی لپاره ددی انقلاب دبری نه په ویره کی ده اودهغی دمخنیوی لپاره شومی هڅی کوی چی اوس په نړیواله سطحه دروس ښکیلاکی ځواك دټوټه ټوټه کیدو اودله منځه تللو په حال کی دی ، او نوریی له امریکا سره دمقابلی ځواك له لاسه ورکړی ، نو امریکا په دی ښه پوهیږی چی ددوی مقابله به اوس اوپه راتلونکی کی یوازی او یوازی اسلام اومسلمانان کولی شی.دوی داسی انگیری چی که چیری په افغانستان کی اسلامی انقلاب بریالی او دمجاهدینو یو ځواکمن اسلامی دولت جوړ شی ، نودابه په عامه توگه ټوله اسلامی نړۍ او په خاصه توگه دسیمی په اسلامی هیوادونو او غورځنگونو ژوره اغیزه وکړی او په مسلمانانو کی به داسلامی وحدت او اخوت روحیه ژوندی او لاپسی پیاوړی کړی او بالاخره به تری یو داسی قوت جوړ شی چی دکفراو طاغوتی ځواکونو پرخلاف مقابله پیل کړی او لکه څنگه چی اوس روسیه دافغانستان دمجاهد ملت داوسپنیز مقاومت مقابل کی ماته او دټوټی ټوټی کیدو درشل ته ورسیده امریکا به هم دمسلمانانو له لاسه ددغه سرنوشت سره مخامخ شی .

څکه نو په خپل ټول ځواك تر ممکنه حده به افغانستان کی داسلامی حکومت دجوړیدو دمخنیوی هڅه کوی .

لکه چی څرگنده ده طاغوتی ځواکونه خپل دغه شوم هدف ته درسیدو لپاره دیوه اوږده پلان له مخی کار کوی ، په ډیر احتیاط سره قدم په قدم پرمخ ځی اوپه دی لړ کی په بیلابیلو رنگونو او نیرنگونو خپلی توطیی یوه په بله پسی پلی کوی اوله یوی ورځی نه بلی ته دپرمختگ په حال کی ښکاری ، خوپه مقابل کی یی موږ په یوه او بل ملحوظ هماغسی غافله اوله پوره بی پروایی نه کار اخلو ، صفونه او دریځونه مو داسلام ددښمنانو دتوطیو او دسیسو په نتیجه کی دخپلوځان غوښتنو اوداسلامی انقلاب دسترو ارمانونو دهیرونی له امله له یوی ورځی نه بلی ته په بیلیدو او لیری کیدو دی .

همدغسی وضعی او حالت زموږ پر مجاهد ملت دنهیلی اومأیوسی لړۍ راخپری ، دجهاد او هجرت په چاپیریال کی یی دبی باوری او بدبینۍ گردجنه فضا رامنځته او زموږ اسلامی انقلاب یی دوروستی بری په درشل کی له جدی خطر سره مخامخ کړی دی .

اوس نو په دغو حساسو شیبو کی دانقلاب دارمانونو غو ښتنه او دحالاتو تقاضا داده چی په عامه توگه زموږ دمجاهد ملت هر مؤمن وگړی او په ځانگړی ډول زموږ جهادی مشران ،مسوولین دسنگرونو اتلان اودینی علما خپل ستر مسوولیتونه او مکلفیتونه درك او داسلام ددښمنانو دهری توطیی اودسیسی دشنډولو لپاره اوڅار اوسی،پخپل منځی بشپړ یووالی سره داسلامی انقلاب دبری په وړاندی واقع خنډونه لری اودسرمنزل په لور پاخه اودرانه گامونه واخلی .

ومن الله التوفیق

دهیواد په تودومورچلو کی

هرات:
دهرات ښخه دمیډیا درپوټ له مخی مجاهدینو دعقرب په ۲۳ مه نیټه دهرات -اسلام قلعه دلویی لاری پر پوستو او همدارنګه دزنده جان ولسوالی پر پوستو برید وکړ چی په نتیجه کی درژیم یوه پوسته په لویه لاره اوبله په زنده جان کی فتحه شوه، درژیم یو شمیر افراد ووژل شول او مجاهدینو ۱۰ میله مختلف ډوله وسله په غنیمت ونیوله .
همدارنګه مجاهدینو دګازرګاه شریف په سیمه کی یوه پوسته فتحه او رژیم افرادو ته یی مالی او ځانی تاوان ورواړاوه .

غور:
به اساس گزارش میدیا مجاهدین دلیر ولایت غور طی عملیاتی بر پوسته های رژیم واقع در اطراف ولسوالی شهرک،یك پوسته رژیم را فتحه نمودند ، وعدهٔ از پوسته های دشمن را ویران نمودند .
مجاهدین طی عملیات مذکور دومیل توپ ۸۲ ملی متری یك میل دهشکه ،یك میل ماشیندار پی کا ، و ۶۰ میل کلاشینکوف راهمراه با مقداری مهمات به غنمیت گرفتند .

کابل :
دمیډیا درپوټ په اساس ویل کیږی چی دده سبز ولسوالی مجاهدینو دعقرب په ۲۵ مه نیټه دخواجه رواش دهوایی ډګر پر امنیتی پوستو عملیات ترسره کړل چی ددښمن یو شمیر پوستی یی ویجاړی اوزیات ځانی اومالی تاوان یی ور واړاوه .
دعملیاتو په ترڅ کی مجاهدینو یو میل پی کا ، دری میله کلاشینکوفونه ، اویوه اندازه مهمات او لوژستیکی مواد ولجه کړی دی .

سمنگان :
یك منبع جهادی ولایت سمنگان به میدیا خبر داد که قوای رژیم مزدور واقع درمرکز ولایت (شهر ایبك) بر سرتقسیم اموال غارت شده مردم بجان هم افتادند ، وافراد زیادی از همدیگر رابه قتل رسانیدند ، راپور می گوید جنگ بین قوای ملیشه رشید دوستم وقوای خاد درگرفته بود که چند ساعت ادامه داشت ودرنتیجه آن تعدادی ازپوسته های ملیشه توسط افراد خاد تصرف گردید.

جوزجان :
دمجاهدینو یوی خبری منبع میډیاته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دمزار شریف پر لویه لاره پرتو درشید دوستم په فرقی پوری مربوطو پوستو باندی عملیات وکړل ، چی درژیم دقواوو څو سنګرونه یی تخریب او درژیم دیوه نظامی کاروان ښخه یی دری عرادی ټانکونه اوزیات شمیر نظامی مهمات له منځه وړی اوڅومیله وسله یی ولجه کړی ده .

په عراق کی دداخلی اړودوړپه دوران کی ښځی اوماشومان ټانکونو پوری تړل شوی

نیویارك ، دپاکستان ورځپاڼه :
دانسانی حقوقو ښخه دتیری په هکله دملګروملتو سازمان په یوه رپوټ کی ویل شوی چی دخلیج جګړی ښخه وروسته چی کله په عراق کی ذاخلی اړو دوړ راپیدا شو ، نو دعراق پوځ ددغه بغاوتونو دټکولو لپاره ښځی او ماشومان په خپلو ټانکونو پوری وتړل .
په رپوټ کی ویل شوی چی عراقی پوځونو په خاصه توګه دکردانو اوشیعه مذهبو مخالفینو په ټکولو کی ډیرو غیر انسانی لارو ښخه کار اخیستی .
دملګرو ملتو سازمان په عراقی حکومت تور لګولی چی دغه رپوټ ورته وړاندی شوی خوهغوی ددی اتهاماتو په وړاندی ښه قناعت بښونکی ځواب ندی وړاندی کړی .

انتخاب معاون صدراعظم مصر بحیث منشی عمومی سازمان ملل متحد

نیویارك ، رادیوی بی ، بی ،سی
شورای امنیت سازمان ملل متحد داکتر « بطرس غالی » معاون صدراعظم مصر را با حاصل نمودن ۱۱ رای از جمله ۱۵ رای بحیث منشی عمومی سازمان ملل متحد انتخابات نموده، درحالیکه نزدیکترین حریف وی وزیر خارجه زمبامبوی «برنارد » هفت رای از ۱۵ رای را بدست اورد.دکتور بطرس «غالی » ٦۹ سال دارد وبعد از اول جنوری سال جدید عیسوی (۱۹۹۲) وظیفه خودرا بحیث سرمنشی سازمان ملل متحد اشغال خواهد کرد .به اساس گفته رادیوبی بی ، بی ،سی داکتر غالی پیرو مذهب عسیایی بوده واولین شخصی ازکشور های افریقایی است که به سمت سرمنشی ملل متحد برگزیده می شود .
داکتر غالی از سال ۱۹۷۷ تا ۱۹۹۱ مسلسل بحیث وزیر خارجه مصر ایفای وظیفه نموده است .رادیوی مذکور گفته است گرچه احتمال می رفت که صدرالدین اغاخان به این عهده انتخاب خواهد شد ، ولی درجریان انتخابات موصوف مقام سوم را بدست اورد .

په نیول شوو عربی سیمو کی ددوو جمهوریتونو دټینګښت هیڅ امکان نشته

واشنګتن ، بی ، بی ، سی راډیو:
داسرائیلو صدراعظم اسحق شمیر چی دامریکا ښخه لیدنه کتنه کوی ، په هغه ځای کی دیهودیانو یوی غونډی ته په وینا کی ویلی دی چی اسرائیل به دسولی په عوض دځمکی دبدلولو اصول هیڅ کله ونه منی .
دامریکا غږ اوبی، بی ، سی راډیو ګانو دخبر مطابق شمیر خپل توند دریځ یو ځل بیا تکرار کړ ، اوپه ډاګه یی وویل چی دغزی په لویدیزه غاړه کی دووهیوادونو دټینګښت هیڅ امکان نشته.
اسحق شیمر دخپلوګاونډیو عربی هیوادونو حکومتونه دسفاکو اووحشی آمریتونو سره تشبیه کړل اودهغوی ددریځ غندنه یی وکړه اسحق شمیر وویل : دغه ځمکه چی نن هلته یهودیان بیرته راغلی دی زموږ دپلرونو اونیکونو ځمکه ده ،اوپه هغی باندی دبل چاڅه حق نشته .
نوموړی له خلکو وغوښتل چی له ده سره دروسی یهودیانو په ځای پر ځای کولو کی مرسته وکړی.

دخلیج په خونړی جنګ کی داتومی وسلو داستعمال اندیښنه

لندن ،دپاکستان ورځپاڼه
دبریتانیی داټومی وسلو تخنیکی ایجنسی ویره څرګنده کړی ده چی دخلیج په تیره جګړه کی داټومی وسلو داستعمال له وجی دپنځو لکو په شاوخوا کی عراقیان وژل شوی دی ویل شوی دی چی دخلیج په جګړه کی امریکا اوبریتانیی په ګډه سره په عراق باندی په زرګونو داسی بمونه غورځولی دی چی اتومی ماده پکی موجود وه ، بلی خواته دبریتانیی یوی ورځپاڼی" انډیپنډنټ"هم څو ورځی مخکی یو خبر خپور کړی و، چی پکی ویل شوی دی دخلیج په جګړه کی امریکا اوبریتانیی په عراق باندی اتومی وسلی استعمال کړی دی .
هلته په عراق کی دعراق دبهرنیو چارو وزیر دملګرو ملتو دمؤسسی ښخه غوښتنه کړی ده چی ددغو خبرونو تحقیقات دی وکړای شی څکه چی دعراق خلکو ته ددغو زهرجنو وسلو داستعمال ښخه ډیرخطرات متوجه دی ملګری ملتونه باید یو بی طرفه ټیم راولیږی ترڅو ددغو خطرونو ښخه دخلکو دژغورنی لپاره لاری چاری وګوری .

په هند کی دتیزو بارانونو له امله ۱۸۰ کسان مړه اوپه زرګونو بی کوره شول

نوی ډیلی ، فرانس پرنس اژانس :
په تیره اونی کی دهند داندراپردیش اوتامل نادو ایالتونو کی دتیزو بارانو له امله ۱۸۰ کسان مړه شوی اوپه زرګونو نور بی کوره شوی دی ، همدارنګه په خبرونو کی ویل شوی چی ۱۷۰ زره بی کوره کسان په ۹۱۷ موقتی پناه ځایونوکی ځای پر ځای شوی .داندراپردیش دترټولو زیاتی ورانو شویو سیمو ښخه ۱۲۰ کلی اوس هم داسمانی افاتو په لوموکی نښتی دی .
رپوټ وایی چی ددی آفتونو له وجی په اندراپردیش کی ۱۳۳ کسان اوپه تامل نادو کی ۵۰ کسان مړه شوی دی اود۳۰ میلونو روپو په ارزښت کښت او زراعت ته تاوان اوړیدلی دی ، همدارنګه دکرناټك په سیمه کی ۷۰ زره کوره له منځه تللی دی .

اسرائیلی پولیسو د«اقصی جومات »تاریخی اسناد غلا کړی

بیت المقدس ، دپاکستان ورځپانه
داردن حکومت داسرائیلو دپولیسو له خوا دبیت المقدس داسلامی محکمی پر عمارت باندی دناڅاپی حملی غندنه کړی . اولدی امله یی داسرائیلو پر حکومت احتجاج کړی .
دامریکاغږ راډیو دخبر مطابق داردن دبهرنیو چارو وزیر ویلی دی چی داسرائیلو پولیسو دبیت المقدس دتاریخ په هکله داسی اسناد له ځان سره وړی دی چی له ۵۰۰ کالو ښخه دزیاتی مودی نه راپدی خوا هلته محفوظ وو .
نوموړی زیاته کړی چی د اردن حکومت داسرائیلو ښخه ددی اقدام په هکله دځواب غوښتنی لپاره دملګرو ملتوسازمان او دمنځنی ختیځ دسولی راوستو په عمل کی نوروشریکو ډلو سره رابطه نیولی ده.

کشمیر هیچگاهی جز از خاك هند نبوده است

دهلی جدید ، نوای وقت :
دگرمن «جی ، کی دت »یك افسر عالی رتبه آرتش هندی طی مضمون منتشره خود دریك هفته نامه هندی اعتراف نموده است که همه تلاش های ۲٤ ساله جهت حل وفصل تنازعه کشمیر ناکام ثابت گردیده واکنون تقاضای زمان این است تا هند حقایق ناخوشگوار را پذیرفته واین مسله رابه شکل منطقی ان حل نماید.
موصوف گفته است که مردم هند از یك مدتی به اینسو دراین دنیایی خیالي زندگی می کنند که کشمیر جز لایتجزای هند است وکسی نمی تواند آنرا از هند جدا بسازد ، ومابه این ترتیب ازدرك این حقیقت بی بهره مانده ایم که واویلا وداد فغان ما یك جانبه است .
«دگرمن دت »می نویسد اگر ما ازیك کشمیری بپرسیم که وی می خواهد با هند یکجا باشد ؟ جواب ان نه تنها منفی خواهد بود بلکه برای مانا قابل اشاعت نیز خواهد بود .
موصوف می گوید این حقیقت مانند روز روشن است که کشمیر هیچ گاهی جز خاك هند نبوده است .
افسر مذکور می افزاید مانع اساسی وبزرگ در الحاق کشمیر وهند مذهب اسلام است واسلام دین چندین مرتبه قوی تر ومتحد کننده نسبت به هندوئیزم است .

دارمنیا او اذربائیجان تر منځ دخونړی جنګ خطر

مسکو ، دقوس ۲مه :
دآذربائیجان ښخه اژانسونه وایی چی ددغه هیواد په مرکز باکو کی دجمعی په ورځ لکونو وګړو دهغو شلو تنو دمړینی په اخری مراسمو کی ګډون وکړ کوم چی په یوه پوځی هلیکوپټر کی دراغورځیدو په نتیجه وژل شوی وو دآذربائیجان جمهور رئیس (ایاز مطلبوف) دروسی تلویزیون سره په یوه مرکه کی دهلیکوپټر دراغورځیدو په اړه ارمنیایان تورن کړی دی ، اوزیاته کړی یی ده که چیری دشوروی مرکزی حکومت دارمنیا په خلاف قدم پورته نکړی نو موږ به خپله قدم پورته کولو ته مجبوره وو.نوموړی ددغی شخړی دهواری لپاره دشوروی اتحاد دپارلمان داضطراری غونډی دراببللو غوښتنه هم کړی ده ، خوبلی خواته دارمنیا جمهور رئیس داضطراری غونډی دراببللو دغوښتنی سره سخت مخالفت څرګند کړی او ویلی یی دی چی که چیری پارلمان دالوتکی دتباهی معامله تربحث لاندی ونیوله ، نو دابه نیغ په نیغه دارمنیا خلاف دجنګ اعلان وی.

په هند کی دغیر انسانی ظلم او وحشت یوه بیلګه

نوی ډیلی ، فرانس پرس اژانس :
په هند کی داقلیتونو او ټیټ ذات له هندوانو سره دومره بی رحمانه او غیر انسانی رفتار کیږی چی دهغی په اوریدلو سره دانسان دبدن ویښته ځیږه شی .
دبیلګی په توګه دهند دشمالی ایالت هریانه په یوه کلی کی دیوه لوړ ذات دهندوڅو غواګانی ورکی شوی وی،نوموړی ددی غلا تور دټیټ ذات په یوه پنځه کلن ماشوم ولګاوه دهغه مظلوم ماشوم سربی پری کړ.
تردی هم وحشتناکه داچی ترقتل وروسته یی دماشوم پری کړی سر په لاس کی نیولی اوپه کلی کی یی ګرځاوه چی دکلی خلك دده له دغه عظیمی کارنامی ښخه خبرشی .

په کندز کی درژیم دملیشه وو یو جنرال ووژل شو

کندز ، میډیا
دکندز ولایت یوه جهادی خبر ځای رپوټ ورکړی چی دکابل رژیم دملیشه وو یو جنرال دوران خان دمجاهدینو دیوه ځای پر ځای شوی ماین دچاودیدو له امله ووژل شو .
خبر ځای ویلی دی چی دغه چاودنه دمجاهدینو له خوا دکندز ښار په بالاحصار کی ترسره شوه چی په نتیجه کی نوموړی جنرال اودهغه څو تنه ساتونکی ووژل شول اودهغوی دسورلی موټر له منځه لاړ .

جهاد هنداره
خپروونکی : دالحاج مولانا جلال الدین حقاني دجبهاتو فرهنگي ټولنه
دټولني مشر : شهرت ننګیال
مرستیال : محمد زبیر «شفیقي »
مسوول مدیر : سید محي الدین هاشمي
پوسټ بکس: ۱۰۳۳ - یونیورسټي ټاون پیښور
دټلیفون نمبر : ۸۱۲۸۸۱
کمپوزر : احمدضیاً «ذهین بابري»